د افغانستان اسلامی امارت

د عامي روغتيا وزارت

د نشراتو او عامه اړيکو آمريت

# روغتيا او ژوند



۲ گڼه

دويم پړاو- دويمه گڼه، جمادي الاول ۱۴۴۵هـ ق

# روغتیا او ژوند

جمادي الاول ۱۴۴۵هـ ق/لیندۍ ۱۴۰۲هـ ش



| | |
|---|---|
| مسؤل مدیر: | باتور څلاند |
| د تحریر هیئت: | ملا محمدحسن محمدزی، ډاکټر شرافت زمان امرخېل ډاکټر جمعه گل احمدزی، استاد محمد زبیر غالب رحمت الله مؤمن او ډاکټر شعیب احمدحیدری |
| گرافیک ډیزاینر: | صفت الله خالد |
| اړیکشمېره: | ۰۲۰-۲۳۰۱۳۷۴ |
| ایمېل: | info.access@moph.gov.af |
| وېبپاڼه: | www.moph.gov.af |
| پته: | د عامې روغتیا څلورلارې، وزیر محمداکبر خان مېنه، کابل |



په دې خپرونه کې د لیکل شویو مطالبو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی، د مجلې له مقالو او مطالبو څخه گټه اخیستنه د سرچینې په یادولو سره جواز لري.

# لیکلړ


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | سریزه............................................................ | ۱ |
| ۲. | د کابل عامې روغتیا ریاست فعالیتونه.................................. | ۲ |
| ۳. | د کابل د تخصصي او ثالثي روغتونونو په اړه معلومات...................... | ۵ |
| ۴. | د نس ناستي کنټرول او مخنیوی....................................... | ۹ |
| ۵. | سرطان در افغانستان و فعالیت های آمریت کنترول سرطان................ | ۱۴ |
| ٦. | د تیتانوس نښې نښاني، لاملونه او مخنیوی.............................. | ۱۷ |
| ۷. | د کانګو ناروغي یا وینه بهوونکې تبه.................................. | ۲۰ |
| ۸. | په افغانستان کې د پولیو پر وړاندې مبارزې ته کتنه........................ | ۲۳ |
| ۹. | مرض سگ دیوانه............................................ | ۲۵ |
| ۱۰. | کلچرک چیست؟ ............................................ | ۲۷ |
| ۱۱. | په تېرو شپږو میاشتو کې د عامې روغتیا وزارت ځینې لاسته راوړنې.......... | ۴۳ |
| ۱۲. | خبرونه او راپورونه | |

# سرليکنه

الحمد لله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلاة والسلام على رسول الله محمد و على آله و أصحابه أجمعين أما بعد:

((إِنَّ اللَّهَ لا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ)(التوبه: ۱۲۰)

د عامې روغتيا وزارت د افغانستان اسلامي امارت په کابينه کې يو له مهمو او کليدي وزارتونو څخه دی او د روغتيايي فعاليتونو د ښه انعکاس او پوښښ په موخه له مختلفو نشراتي وسايلو له لارې هڅه کوي، چې د روغتيا د برخې اړين او ګټور معلومات ټولو هېوادوالو ته پر وخت و رسوي او ولسونه د عامې روغتيا وزارت له کړنو څخه پر وخت خبر شي.

د عامې روغتيا وزارت د عامه اړيکو امريت وياړي، چې د خپلو فعاليتونو په دوام يو ځل بيا د روغتيا او ژوند دري مياشتنۍ مجله د ګټورو مطالبو سره په ښکلي صحافت چاپ او د لوستونکو تر لاسونو يې رسوي.

د افغانستان اسلامي امارت له واکمنېدو را پدېخوا د عامې روغتيا وزارت په روغتيايي برخه کې د پام وړ ګامونه اخيستي دي، د هېواد روغتيايي برخه تر ډېره پر ځان بسيا شوې ده، د هېواد په نېږدې او لرې پرتو سيمو کې نوي روغتيايي مرکزونه جوړ او فعال شوي دي، په ډېرى روغتيايي مرکزونو کې اړينې تخصصي څانګې پرانيستل شوې د روغتيايي مرکزونو ودانۍ رغول شوي او په زرګونه روغتيايي کارکوونکي ګمارل شوي دي.

د عامې روغتيا وزارت هڅه کوي؛ تر څو د هېواد ټولو وګړو ته په عادلانه ډول معياري روغتيايي خدمات او اسانتياوې برابرې کړي او د هرې سيمې روغتيايي اړتياو ته په کتو نوي معياري روغتيايي مرکزونه جوړ کړي، چې الحمدلله په دې برخه کې ګټور ګامونه اخيستل شوي دي او د يو پر ځان بسيا روغتيايي سکتور لپاره پوره ژمنه رهبري موجوده او کار دوام لري.

# د کابل عامې روغتیا ریاست فعالیتونه

**۱. پېژندنه:**

د کابل عامې روغتیا ریاست د کابل ښار په سینماپې پامیر سیمه کې د مرکزي پولي کلینیک په انګړ کې موقعیت لري، چې په روغتیایي مراکزو کې د روغتیایي خدمتونو د تطبیق د څارنې ترڅنګ د ۳۹ سلنه څخه په ډېرو روغتیایي مراکزو کې د روغتیایي خدماتو د تطبیق دنده په غاړه لري.

له دې امله په یو وخت کې د روغتیایي خدمتونو د Supervision (نظارت) تر څنګ د HER پروژې د تطبیق څخه هم څارنه او Monitoring ترسره کوي.

د کابل د عامې روغتیا ریاست اړوند ( ۱۷۲ ) ښاري او اطرافي روغتیایي مرکزونه ( لس د ولسوالۍ په کچه روغتونونه، ۴ +CHC، ۴۸ CHC، ۹ SHC، ۷۳ BHC، ۴ +BHC، ۵ MHT) د کابل ولایت اوسېدونکو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي، چې په (۱۵۳۹) تخنیکي او خدماتي کارکوونکي ( ۲۴۴ ډاکټران، ۱۸۳ قابلې، ۱۵۰ نرسان، او ۹۶۲ نور کارکوونکي ) په کې د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو مسئولیت لري.

**د کابل عامې روغتیا ریاست کړنې (فعالیتونه):**

۱) د کابل عامې روغتیا ریاست د روغتیایي همغږۍ د کمېټې (PHCC) میاشتنۍ غونډې د تطبیق کوونکو موسسو او ټولو کاري شریکانو په ګډون په منظم ډول ترسره کېږي.

۲) دغه ریاست د کابل ولایت مقام کې په جوړو شویو PDC غونډو کې فعال ګډون کوي.

۳) د روغتیایي چـــارو د ښه انسجـــام او تنظیم په موخه میاشتنې، ربعوار او کلني کاري پلانونه په منظم ډول ترتیب او د ذیصلاح مقاماتو له منظورۍ وروسته په منظم ډول ترتیب او تطبیق کېږي.

۴) د دې ریاست په هڅو د بېړنیو پېښو پر وړاندې د چمتووالي کمېټه (EPR) Emergency Preparedness & Response Meeting فعاله او مجلسونه یې په منظم ډول ترسره کېږي.

۵) ددغه ریاست له لورې (۶) عرادې امبولانسونه او (۱۲) عرادې موټر سایکلونه ترمیم شوي او ګته ترې اخیستل کېږي.



۶) په کابل کې ۲۵ روغتیایي مرکزونه (د سروبي د جګدلک، د قره باغ د اکاخېلو او بر مشواڼي، د چهارآسیاب د للندر، تنګي سیدان او قلعه لقمان، د میربچه کوټ BHC ، د شکردرې د حاجی بخشي BHC ، د پغمان د کوز ارغندي او پغمان د خواجه جم روغتیایي مرکزونه او نور) چې د تېر حکومت پرمهال غیر فعال پاتې وو، دغه روغتیایي مراکز اوسمهال فعال شوي او روغتیایي خدمتونه پکې ترسره کېږي.

۷) د یاد ریاست په هڅو د کابل د هوایي ډګر روغتیایي مرکز د IOM موسسې لخوا فعال او ۲۴ ساعته روغتیایي خدمات وړاندې کوي، چې د کرونا د تشخیص، درملنې او قرنطین آسانتیاوې هم په کې برابرې شوي دي.

۸) د یاد ریاست د مسئولینو په هڅو د احمد شاه بابا DH روغتون د ودانۍ او ټولې څانګې بیا و رغول شوې او نوې مجهزه عملیات خونه پکې جوړه شوه، چې نیږدې ۱۲ لکو کسانو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي.

۹) د یاد ریاست له لوري د سر کوتل، د رحمن مینې، چهار آسیاب، قصبې، حسین خیلو او اوزبین روغتیایي مراکز په اساسي ډول بیا ورغول شول.

۱۰) په موسهي ولسوالۍ کې د لومړي ځل لپاره د شپې لخوا روغتیایي خدمات فعال شوي دي.

۱۱) د دغه ریاست له لوري په دې ولایت کې د خوارځواکۍ د مخنیوي په موخه د تغذي ګرځنده ټیمونه، په روغتیایي مراکزو کې ثابت ټیمونه توظیف او په روغتونونو کې د TFU څانګې فعالې شوي چې د خوارځواکۍ او داخل بستر خدمتونه وړاندې کوي.

۱۲) د دغه ریاست له لوري د روغتیایي موضوعاتو په اړه د عامه پوهاوي په موخه د کابل په مختلفو سیمو کې غونډې جوړې شوي او خلکو ته عامه پوهاوی ورکړل شوی دی.

۱۳) د دغه ریاست له لورې د مسئولینو او تخنیکي ټیمونو له لوري د روغتیایي مراکزو څخه د پلان سره سم ګډ نظارت (Joint Monitoring) ترسره کېږي.

۱۴) دغه ریاست د روغتیایي مراکزو د روغتیایي پرسونل د ارتقاء ظرفیت په موخه مختلف ټریننګونه او ورکشاپونه دایر کړي دي.

۱۵) د دغه ریاست اړوند روغتیایي مراکزو کې د نارینه او ښځینه و بېړنۍ څانګې په جلا ډول فعالې شوي دي.

۱۶) د روغتیایي خدماتو تطبیق کوونکو موسسو سره په همغږۍ نیږدې (۱۵۰۰) تنه روغتیایي کارکوونکي د آزاد رقابت له لارې په روغتیایي مراکزو کې په دندو ګمارل شوي دي.

۱۷) د کابل د عامې روغتیا ریاست د هڅو په اساس د قلعه بختیار د ( CHC ) روغتیایي مرکز لپاره د UNHCR لخوا نوی تعمیر په پاخه او اساسی ډول جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

> ”حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمايي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې د شپې په داسې حالت کې ویده شي چې لاسونه یې غوړ وي او ده ته کوم ضرر ورسیږي؛ خپل ځان دې په خپله ملامت کړي. “ –الترمذی، کتاب الطب –

# د شیخ زاید ملي نیوروساینس روغتون کې د ځینو مهمو ځانګو پرانیسته ترسره او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر ښاغلي ډاکټر قلندر عباد له لوري د شیخ زاید ملي نیوروساینس روغتون کې د ځینې نوو جوړو شوو او رغول شوو ځانګو پرانیسته ترسره او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

په همدې موخه جوړو شوو مراسمو کې د عامې روغتیا وزیر ښاغلي ډاکټر قلندر عباد د پلان او پالیسۍ معین ډاکټر محمد حسن غیاثي، د مقام د دفتر رئیس ملا محمد حسن محمدزي، ، د شیخ زاید ملي نیوروساینس روغتون مسئولینو او روغتیایي کارکوونکو ګډون کړی و.

د عامې روغتیا وزیر ښاغلي ډاکټر قلندر عباد د شیخ زاید ملي نیوروساینس روغتون کې د جراحي ICU ځانګې، مجهزو عملیات خونو، ریکوري، سي تي سکن CT SCAN د وینې بانک، مجهز لابراتوار، ډیجیټل اکسرې، التراسونډ، EEG، ایکو، نارینه OPD او ښځینه OPD ځانګو پرانیسته او بیا رغول د افغانستان د روغتیایي سکتور په برخه کې معیاري والي او پرمختګ ته له بل هر وخت څخه نېږدې ګڼدل وګڼل او و یې ویل، د عامې روغتیا وزارت هڅه کوي؛ چې د ناروغانو د درملنې په موخه په کور دننه غوره امکانات او معیاري روغتیایي خدمات برابر کړي.

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت ژمن دی؛ څو ټولو هېوادوالو ته معیاري روغتیایي خدمات وړاندې کړي.



# د کابل د تخصصي او ثالثي روغتونونو

## په اړه معلومات

د کابل ولایت (۲۱) روغتونونه د مختلفو تخصصي او ثالثي روغتیایي خدماتو په درلودلو سره د کابل ښاریانو او د نورو ولایتونو اوسېدونکو ته روغتیایي خدمات وړاندې کوي.

تر ټولو مهمې برخې چې د کابل ښار په دغو (۲۱) روغتونونو کې خلکو ته وړاندې کېږي عبارت دي له:




د شیخ زاید روغتون ودانۍ یوه څنډه

۱- عمومي داخله

۲- عمومي جراحي

۳- نسایي ولادي

۴- ارتوپیډي

۵- انتاني

۶- د غوږ او ستوني څانګه

۷- د ماشومانو څانګه

۸- داخله او عصبي جراحي

۹- جلدي

۱۰- د غاښونو څانګه

۱۱- د سترګو څانګه

۱۲- د سوځېدلو برخو څانګه

چې دغه څانګې په نورو کوچنیو ... شوي دي.

د یادونې وړ ده چې په دغو روغتیایي مرکزونو کې د بېلابېلو جراحۍ او نورو روغتیایي برخو تر ټولو ستر او پېچلي عملیاتونه ترسره کېږي او ناروغانو ته ټول اړین روغتیایي خدمات وړاندې کېږي د ورځنیو او کلنیو راپورونو له مخې چې د روغتیایي خدمتونو له عرضې څخه راټولېږي، په ورځني ډول سلګونه او زرګونه ناروغان چې دغو روغتونونو ته مراجعه کوي اساسي او تخصصي روغتیایي خدمات ورته وړاندې کېږي.

د کابل د (۲۱) روغتونونو له ډلې څخه، لاندې څانګې (آنکولوژي، نیفرولوژي، یورولوژي، هیماتولوژي، عمومي



د جمهوریت روغتون ودانۍ

جراحي، عمومي داخله، د غوږ او ستوني، د اعصابو جراحي، هیموډیالیز) په جمهوریت روغتون کې شتون لري چې له همدې مخې د کابل یو له سترو روغتونونو څخه شمېرل کېږي او د کابل ښار په صدارت څلورلارې کې موقعیت لري.

دوه اختصاصي روغتونونه چې د میندو او نوي زیږېدلو ماشومانو لپاره په نسایي ولادي برخه کې تر ټولو مهم روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي د ملالۍ زیږنتون او رابعه بلخي روغتونونه دي چې دواړه په کابل ښار کې موقعیت لري او هره ورځ ددې برخې زرګونه ناروغان نه یوازې له کابل؛ بلکې د ولایتونو څخه هم ورته مراجعه کوي او روغتیایي خدمات ورته وړاندې کېږي.

د شیخ زاید روغتون او وزیرمحمد اکبر خان روغتون په کابل ښار کې دوه ستر روغتیایي مرکزونه دي، چې هره ورځ د جدي او بېړنیـــو پېښو ناروغانو ورته مراجعه کوي، دغه روغتونونه د ارتوپیدي او جراحي عصاب برخې ناروغان او هغه خلک چې د غیر مترقبه پېښو له کبله دې روغتونونو ته راځي ورته روغتیایي خدمات وړاندې کېږي. دغه دوه ستر روغتونونه د متخصصو او تجربه لرونکو ډاکټرانو او روغتیایي کارکوونکو په درلودلو سره د ارتوپیډي او د عصبي جراحۍ په برخه کې شپه او ورځ هېوادوالو ته روغتیایي خدمات وړاندې کوي. شیخ زاید روغتون د هوايي ډګر په لویه لار او وزیرمحمداکبرخان روغتون په وزیر محمداکبر خان مېنه کې موقعیت‌لري.

هغه مهم روغتیایي مرکزونه چې د کابل په غرب کې موقعیت لري عبارت دي له (استقلال تخصصي روغتون، د دشت برچي سل بستریز روغتون او د حضرت بلال ۵۰ بستریز روغتون) څخه چې مختلفې برخې په دغه روغتونونو کې وړاندې کېږي چې تر ټولو مهمې برخې يې (عمومي داخله، عمومي جراحي، نسايي ولادي، د کوچنیانو داخله، سوځېدلو، پلاستیک جراحي او یورولوژي) دي.

همدارنګه د اندراګاندي د ماشومانو د درملنې روغتون چې د عامې روغتیا وزارت ته مخامخ او د اتاترک روغتون چې د کابل ښار په درییمه ناحیه کې موقعیت لري، د ماشومانو د برخې لپاره تر ټولو زیات روغتیایي وړاندې کوي چې


د شیخ زاید روغتون ودانۍ لویدیځه برخه

له کابل او ولایتو څخه ورته مراجعین راځي، دغه دوه روغتونونه د ماشومانو د ناروغیو لپاره په کابل ښار کې زیات روغتیایي خدمات وړاندې کوي همداراز د عمومي جراحي ( د بطن جراحي او د زړه جراحي) عمومي داخله، ارتوپیډي او د غوږ او سینې روغتیایي خدمات هم وړاندې کوي.

د کابل په شمال شرق کې د خیرخانې ۱۰۲ بستریز روغتون موقعیت لري چې د ورځې سلګونه کسان ورته مراجعه کوي او لاندې روغتیایي خدمات وړاندې کوي، عمومي داخله، عمومي جراحي، نسایي ولادي او د ماشومانو داخله برخې خدمات وړاندې کوي.

د سترګو او غاښونو په برخه کې چې د کابل او ولایاتو څخه ناروغانو ته خدمات وړاندې کوي په کابل کې د ستوماتولوژي روغتون او د نور د سترګو روغتون دی چې هغه هېوادوال چې د سترګو او د غاښونو په برخه کې ستونزې او ناروغي لري دغو روغتونو ته مراجعه کوي او خدمات ورته وړاندې کېږي.

همدارنګه د کابل ښار په لومړۍ ناحیه کې د ابن سینا بېړنی روغتون دی چې په دغه روغتون کې د عمومي داخله روغتیایي خدمتونه ترسره کېږي او کابل ښار په قصبې سیمه کې د صدري ابن سینا روغتون د قلبي ناروغیو اړوند د جراحۍ عملیاتونه  په کې ترسره کېږي، هغه ناروغان چې د زړه له ناروغیو څخه شکایت لري، دې روغتون ته مراجعه کوي او روغتیایي خدمتونه ورته وړاندې کېږي.

په کابل کې پولیکلینک چې تر ټولو زیات ناروغان ورته مراجعه کوي او روغتیایي خدمات ورته وړاندې کېږي د کابل ښار په سینمای پامیر کې موقعیت لري چې د OPD برخې زرګونه ناروغان ورته د روغتیایي خدماتو لپاره مراجعه کوي.

هغه روغتون چې د معلولینو او معیوبینو لپاره روغتیایي خدمات وړاندې کوي د معلولینو د بیا رغونې یا احیای مجدد روغتون دی چې د پولی کلینیک تر څنګ موقعیت لري او د معلولو او معیوبو هېوادوالو لپاره روغتیایي خدمات وړاندې کوي او ددې برخې یو له تخصصي مرکزونو څخه دی.



همدارنګه د رواني ناروغيو د درملنې لپاره يو روغتون چې د کابل ښار په درېمه ناحيه کې موقعيت لري د رواني ناروغيو د درملنې تخصصي روغتون دی چې پوه او وړ متخصصين او استادان لري او هغه هېوادوال چې له رواني ناروغيو څخه شکايت لري دغه روغتون ته مراجعه کوي.

په کابل کې د افغان جاپان روغتون چې د کابل ولايت ټول اوسېدونکي يې له نوم سره بلد دي کله چې د کرونا ناروغي په ټوله نړۍ کې خلک ورسره لاس او ګريوان ول، په کابل کې يوازينی مرکز چې د کرونا د درملنې په برخه کې يې روغتيايي خدمات وړاندې کول د افغان جاپان روغتون و.

دغه مرکز چې په اوومه ناحيه (دارالامان) کې موقعيت لري د ويروسي ناروغيو د درملنې لپاره تخصصي روغتون دی، دغه روغتون معياري او پرمختللي لابراتوارونه او عصري ماشين آلات لري چې د ناروغانو د درملنې په برخه کې ډېر مهم رول ترسره کړی او د ويروسي او ميکروبي ناروغان دغه روغتون ته د درملنې لپاره مراجعه کوي.



د وزير محمداکبرخان روغتون ودانی

# د نس ناستي کنټرول او مخنیوی

د روغتیا د ودې آمریت

## نس ناستی څه شی دی؟

په شپه او ورځ کې درې یا له درېو څخه په ډېرو ځلو د اوبلنو غایطه موادو دفع کولو ته نس ناستی ویل کېږي، نس ناستی ډېره خطرناکه ناروغي ده او تر پنځو کالو د کم عمر لرونکو ماشومانو د مړینې یو مهم لامل دی، نس ناستی د بدن د مایعاتو د ضایع کېدو له کبله د مړینې لامل دی.

همدارنګه نس ناستی د خوارځواکیو د ګڼو ډولونو مهم لامل دی، د نړیوالو روغتیایي موسسو په واسطه د نشر شویو وروستیو شمېرو له مخې ۱،۱ میلیون تر پنځو کالو د کم عمر لرونکي ماشومان چې په ورځ کې نږدې ۳۰۰۰ ماشومان تخمین شوي دي، د نس ناستې له کبله مري، په خواشینۍ سره چې ۱۳۳ تنه پکې زموږ د هېواد ماشومان دي، نس ناستې تر پنځو کالو د کم عمر لرونکو ماشومانو د مړینې دوهم لامل دی.

جګړې، مهاجرتونه، مختلفې طبیعي پېښې لکه زلزله، سېلاب، وچ کالي او داسې نور د دې لامل ګرځي چې کمپونه (د خلکو راټولېدل) رامنځته شي، پدې حالاتو کې د خلکو لاسرسی پاکو اوبو، پاکو خوړو او تشناب ته کمېږي، فردي او چاپېریالي حفظ الصحه پکې خرابېږي او د نس ناستې د ناروغۍ د پېښو د زیاتېدو تر څنګ یې د یو کس څخه بل کس ته د لېږد لپاره لاره هم برابرېږي؛ نو ځکه ټولنه اړتیا لري چې په بېړنیو حالاتو او د ناروغۍ د خپرېدو پر وخت د دې ناروغیو د کنټرول او مخنیوي لپاره لازم پوهاوی ولري او د کنټرول او وقایې لپاره یې بېړني ګامونه پورته کړي.



**د نس ناستي د ناروغيو لاملونه :**

د نس ناستې ناروغي ګڼ شمېر لاملونه لري، تر ټولو مهم يې عبارت دي له:

۱-باکتريايي ميکروبونه لکه د وينه لرونکي پيچش باسيل، محرقه او دې ته ورته نور.

۲-ويروسي ميکروبونه لکه روټا ويروس چې په ماشومانو کې د نس ناستي د ډېرو پېښو مسئول دی.

۳-فنګسي ميکروبونه.

۴-پروتوزوايي ميکروبونه لکه آميب او جارديا.

۵-نورې ناروغۍ لکه شری، د غوږ التهاب، سينه بغل او داسې نور.

۶-د زهرو مختلف ډولونه.

**د نس ناستي د ناروغيو مخنيوی او د خپرېدو لارې چارې:**

د نس ناستې ناروغيو د غوره مخنيوي لپاره بايد د دې ناروغيو په سايکل (د ناروغۍ سرچينه او د خپرېدو په لارو چارو) پوه شو.

د نس ناستي د ناروغيو د خپرېدو لپاره پنځه مهم مساعد کوونکي لاملونه عبارت دي له:



**د نس ناستي د ناروغيو د ميکروبونو سرچينې:** د نس ناستي د ناروغيو د ميکروبونو اصلي سرچينه د انسانانو او حيواناتو کولمې دي، چې هلته وده کوي او د غايطه موادو په وسيله بهر ته اطراح کېږي.

**د انسان بدن ته د ناروغيو (د نس ناستي د ناروغيو د ميکروبونو) د ننوتو لاره:**

د نس ناستې د ناروغۍ ميکروبونه د اوبو، د ناپاکو او ککړو خوړو، ګوتو، مچانو او نورو ککړو شيانو لکه د ماشوم د لوبو وسايل، د شيدو چوشک، قلم او داسې نورو پر وسيله د خولې له لارې د انسان بدن ته ننوزي او بيا ځلې په کولمو کې وده کوي او د هضمي جهاز د التهاب لامل ګرځي، چې د دې پروسې په پايله کې د ميکروبونو نوی نسل د غايطه موادو له لارې بهر ته اطراح کېږي او په همدې توګه د نس ناستي د ناروغيو د خپرېدو پروسه دوام پيدا کوي.

**معافيت:** د مختلفو عمرونو لرونکي کسان د نس ناستي په ناروغيو اخته کېداى شي، خو د حفظ الصحوي ځانګړتيا له مخې تر ۵ کالو د کم عمر لرونکو ماشومانو کې ډېرې معمولې دي.

د نس ناستې ناروغۍ معافيت نه لري او يا هم ډېر ضعيف او ناپايداره معافيت رامنځته کوي چې اکثراً اختلاطي وي. هغه ماشومان چې ښه تغذيوي حالت نه لري، معافيت يې ټيټ وي او ډېر ځله په نس ناستي اخته کېږي او د مړينې د لوړ خطر سره مخامخ کېږي.

## د نس ناستي ډولونه

د دې لپاره چې نس ناستی د ناروغانو په وخت تشخیص، درملنه، څارنه او د ناروغۍ د خپرېدو څخه نورو ته مخنیوی وشي، د نس ناستې د ناروغیو وېشنه باید په یاد ولرو:

## د دوام له نظره د نس ناستي ډولونه:

**حاد نس ناستي:** که چېرې د نس ناستي کومه پېښه تر ۱٤ ورځو لږ دوام وکړي؛ حاد نس ناستی ورته ویل کېږي. که چېرته يې په سمه توګه څارنه وشي ماشومان ژر ښه کېږي؛ خو په هغو پېښو کې چې د بدن ډېر مایعات ضایع شي، ډېر خطرناک دی او حتی د ماشومانو د مړینې لامل ګرځي.

**مزمن یا ځنډنی نس ناستی:** که چېرته د نس ناستي کومه پېښه تر ۱٤ ورځو زیات دوام وکړي؛ مزمن یا ځنډنی نس ناستی ورته ویل کېږي. د ٪۲۵ څخه په زیاتو پېښو کې نس ناستي په مزمن یا ځنډني ډول بدلېږي، چې د ماشومانو دخوارځواکۍ او مړینې یو له مهمو لاملونو څخه دی.

باید ووایو چې په غایطه موادو کې د وینې موجودیت د وینه لرونکي نس ناستي په نامه یادېږي او د ناروغۍ د شدت، په تېزۍ سره د خپرېدو او په لوړه کچه د مړینې د لرلو له کبله د نس ناستي د ناروغیو ځانګړی ډول ګڼل کېږي.

## د شدت له نظره د نس ناستي ډولونه:

خفیف نس ناستی: عبارت د هغه نس ناستي څخه دی چې ناروغان درې یا ډېر ځله اوبلن غایطه مواد په کمه اندازه په شپه او ورځ کې دفع کوي، خو په ناروغ کې نورې نښې شتون ونه لري او یا هم خفیفې وي او ناروغان ظاهراً روغ ښکاري.

متوسط نس ناستی: پدې ډول نس ناستي کې نښې نښانې په خفیف ډول لیدل کېږي. ناروغان د عادي حالت په پرتله ډېر د تندې احساس کوي، خفیف وچوالی یې په خوله، سترګو او پوستکي کې لیدل کېږي.


شدید نس ناستی: عبارت د هغه ډول نس ناستي څخه دی چې پکې ناروغان بې حاله وي او په مشکل سره ځواب



وايي، اکثراً خوراک او څښاک نشي کولای. په ځينو حالاتو کې د ناروغ پښې او لاسونه شخيږي، د ناروغ سترګې لوېږي، پوستکی يې کشش د لاسه ورکوي او وچيږي، ناروغان د بدن مايعات له لاسه ورکوي او که چېرته په وخت روغتيايي مرکز ته مراجعه ونشي د ماشومانو د مړينې لامل ګرځېدای شي.

**د نس ناستي د ناروغيو نښې او نښانې:**

د نس ناستي د ناروغۍ معمولي نښې او نښانې عبارت دي له: په شپه او ورځ کې درې يا د درې ځلو څخه ډېر د اوبلنو غايطه موادو دفع، زړه بدوالی، کانګې، تنده، د سترګو لوېدل، د خولې، پوستکي او سترګو وچېدل، تبه،



بې اشتهايي، نفخ او د ګېډې درد او په غايطه موادو کې د وينې موجوديت.

**تشخيص:** د سببي لامل او د متوسط او شديد نس ناستي د درمليزې درملنې لپاره بايد ډاکټر ته مراجعه وشي او د هغه د لارښوونو برابر عمل وشي.

د نس ناستي د خپرېدو کنټرول او مخنيوی

بدن ته د ناروغۍ د ننوتو د لارې د وقايوي تدابيرو اړوند بايد د ناروغۍ د انتقال او وقايې لپاره پنځه مساعد کوونکي لاملونه يا پنځه فکتورونه په پام کې ونيول شي.

**۱. اوبه**

تل د اوبو د پاکې سرچينې څخه ګټه واخلئ.

د نس ناستي د ناروغيو د مخنيوي لپاره تل د نل، لاسي بمبې او سرپټو سرچينو لکه څاه، چينې او کارېز څخه اوبه وڅښئ.

**۲. خواړه**

د نس ناستي د ناروغيو د مخنيوي لپاره تل سبزيجات او ميوه جات تر خوړلو دمخه ښه ووينځئ او د ۳۰ دقيقو لپاره يې د کلورين يا پتاس (پوټاشيم پرمنګنيټ) په محلول کې کېږدئ تر څو د ميکروبونو څخه ښه پاک شي او تاسې ناروغه نه کړي.

د نس ناستي د ناروغيو د مخنيوي لپاره تازه خواړه او د څښلو پاکې اوبه وکاروئ، خواړه او مېوې مو په جالۍ وپوښئ او د اوبو په ذخيرې باندې سرپوښ کېږدئ.

د نس ناستي د مخنيوي لپاره، ماشوم په لومړيو ٦ مياشتو کې

يوازې او يوازې د مور په شيدو تغذيه کړئ، ځکه د مور په شيدو کې موجود پروټين د ماشوم د بدن مقاومت د نس ناستې او نورو ناروغيو په وړاندې زياتوي؛ هغه ماشوم چې د مور په شيدو تغذيه کېږي ډېر کم په نس ناستې اخته کېږي او که اخته هم شي د ناروغۍ شدت يې ډېر کم وي.

**۳. ګوتې**

د نس ناستې د ناروغيو د مخنيوي لپاره مو لاسونه حتماً د خوړو تر خوړلو دمخه او تشناب ته تر تللو وروسته په اوبو او صابون ووينځئ.

**۴. غايطه مواد**

د نس ناستې د ناروغۍ د پېښو د مخنيوي لپاره په ازاده فضا کې د حاجت د رفع کولو څخه ډډه وکړئ او پاک ځاى وټاکئ.

د تشناب غايطه مواد په منظم ډول د اوبو د سرچينو او اوسېدو د ځاى څخه لرې تر خاورو لاندې خښ کړئ، تر څو د نس ناستې په ناروغۍ د اخته کېدو څخه په امان کې شي.

د ناروغۍ د خپرېدو څخه د مخنيوي لپاره بايد د ناروغ غايطه مواد د خاورو لاندې خښ کړئ.

**۵. مچان**

د نس ناستې د ناروغيو د مخنيوي لپاره، کور او پخلنځي ته د مچانو د ننوتو څخه مخنيوى وکړئ.

**د او آر اِس د محلول د جوړولو طريقه**

۱. د او آر اِس د يو پاکټ محتوى په يو پاک لوښي کې چې يو ليټر (څلور ډک ګيلاسونه) ايشول شويو يخو اوبو کې واچوئ.

۲. محلول وښوروئ.

ددغه محلول څخه کولاى شئ يوازې د ۲٤ ساعتونو لپاره کار واخلئ او وروسته له هغې نه محلول لرې واچوئ او بل تازه محلول جوړ کړئ؛ هڅه وکړئ چې د او آر اِس محلول په لږه اندازه خو ډېرو دفعاتو ناروغ ته ورکړئ، که ناروغ کانګې وکړي، ۱۰ دقيقې تم شئ او بيا د محلول ورکړې ته دوام ورکړئ.

که د اور آر اِس پاکټونو ته لاسرسى نه لرئ؛ کورنى او آر اِس په لاندې توګه جوړ کړئ:

د چايو اته (۸) کاچوغې (ځمځې) بوره او يوه کاچوغه (ځمځې) مالګه په يو ليټر (څلورو ډکو ګيلاسونو) ايشول شويو يخو اوبو کې واچوئ او په يو پاک لوښي کې يې سره حل او په خوندې او يخ ځاى کې يې وساتئ، د دې محلول څخه يوازې د ۲٤ ساعتونو لپاره ګټه اخيستلاى شئ، وروسته محلول لرې واچوئ او بل تازه محلول جوړ کړئ.

> ”حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم په اوبو کې د ساه اخيستلو او اوبو کې د پوکې کولو څخه منعه کړې ده.“
>
> رواه مسلم

# سرطان در افغانستان و فعالیت های آمریت کنترول سرطان

سرطان از جمله امراض غیر ساری اساسی در جهان است که حدود ۴۴ میلیون نفر در سراسر جهان از این بیماری رنج می برند. در سال ۲۰۲۰ بر اساس تخمین سازمان صحی جهان، ۱۹ میلیون واقعات جدید سرطان در جهان به ثبت رسیده است و در همان سال بر اساس تخمین دیگر، ۱۰ میلیون نفر بر اثر این بیماری جان خود را از دست داده اند. این به این معنی که از هر ۶ واقعه فوتی ۱ واقعه آن به سبب سرطان میباشد. امراض سرطانی بعد از امراض قلبی وعایی یکی از عوامل عمده مرگ و میر در جهان میباشد.

در سال ۲۰۲۰ بر أساس تخمین سازمان صحی جهان در افغانستان حدود ۳۸۵۵۴ نفر از این بیماری مزمن رنج میبرند، همچنان بر اساس تخمین دیگر سازمان صحی جهان سالانه ۲۳۰۰۰ واقع جدید سرطان در افغانستان ثبت میگردد و سالانه ۱۶۰۰۰ نفر از باعث این مرض جان خود را از دست میدهند. سرطان های شایع در افغانستان سرطان های ثدیه، معده، شش، رحم (عنق رحم) ، امعا و رکتوم و سرطان های دهن و لب میباشد.

با در نظرداشت ارقام فاجعه آور فوق الذکر و مشکلات در وقایه، تشخیص مقدم، تشخیص و تداوی معیاری، ارایه مراقبت های حمایوی و جمع آوری ارقام و سرویلانس امراض سرطانی، برای اولین بار پروژه تشخیص و تداوی امراض سرطانی در سال ۱۳۹۵ در چوکات وزارت صحت عامه ایجاد و آغاز به فعالیت نمود و بلاخره طی مدت یک سال با انجام خدمات سریع این پروژه به پروگرام ملی کنترول سرطان ارتقا نمود، هدف اصلی و نهایی پروگرام ملی کنترول سرطان کاهش وقوعات سرطان و مرگ و میر ناشی از سرطان در افغانستان میباشد.

پروگرام ملی کنترول سرطان اکنون عملاً در عرصه





د سرطان ویروس

تشخیص مقدم، تشخیص و تداوی معیاری ، ارایه مراقبت های حمایوی، جمع آوری و ثبت ارقام و ارتقای ظرفیت پرسونل صحی در بخش امراض سرطانی فعالیت مینماید. بخش تشخیص و تداوی امراض سرطانی پروگرام ملی کنترول سرطان که در شفاخانه جمهوریت فعالیت مینماید شامل بخش های ذیل میباشد.

۱. داخله انکولوژی با ظرفیت۳۶ بستر
۲. جراحی انکولوژی با ظرفیت ۲۴ بستر
۳. بخش سراپا یا OPD
۴. بخش روزمره یا Day care Unit با ظرفیت ۲۰ بستر
۵. بخش تشخیصه که شامل : لابراتور، اندوسکوپی بشمول نمونه گیری توسط اندوسکوپی ، التراسوند، اخذ نمونه یا Biopsy توسط رهنمود التراسوند، رادیولوژی و پتالوژی میباشد.

در ضمن پروگرام ملی کنترول سرطان دارای دو بخش فرعی در ولایات هرات و بلخ نیز میباشد که هر کدام آن ظرفیت ۱۵ بستر را دارا میباشند ، از زمان تاسیس پروگرام ملی کنترول سرطان الی اکنون به حدود ۱۵۰ هزار نفر مشوره های صحی و خدمات سرطانی در این مراکز ارایه شده و حد اوسط مراجعه روزانه مریضان به این مرکز در حدود ۱۳۰ الی ۱۶۰ نفر در روز میباشد.


د سرطان د ویروس شکل

# د سرطان ناروغانو لپاره د خوړو چارټ




سرچینه: د سرطان د کنټرول ملي پروګرام

# د تیتانوس نښې نښانې، لاملونه او مخنیوی

**رنځوریار ډاکتر محمد نعیم اکبري**
**د داخله انتاني څانګې مشر**

تیتانوس یوه جدي باکټریایي ناروغي ده، دا ناروغي د ټول بدن د غړو د سختېدو او شخوالي سبب کیږي، دا چې د ژامې ترل کېدل د دې ناروغۍ له لومړنیو نښو ګڼل کیږي، له همدې امله دې ناروغۍ ته ځینې وخت د (Lockjaw) یا ژامه تړونکې ناروغۍ نوم هم ورکول کیږي؛ ځکه چې دا روغتیایي ستونزه ډېری وختونه د ژامو او غاړې د عضلاتي انقباضاتو سبب کیږي او په دې ډول د بدن نورو برخو ته پراخیږي.

تیتانوس د (Clostridium tetani) په نوم مضرې باکټریا په وسیله رامنځته کیږي؛ که درملنه یې ونشي د انسان ژوند ته ګواښ پیښولی شي د ناروغیو د مخنیوي او کنټرول معتبرې سرچینې (CDC) د معلوماتو له مخې نږدې له ۱۰ تر ۲۰ سلنه د تیتانوس ککړتیاوې وژونکې دي، تیتانوس د طب په ډګر کې د جدي پاملرنې وړ موضوع ده، له نېکه مرغه تیتانوس د ځینو درملو او واکسین پر مټ د مخنیوي وړ دی، په داسې حال کې چې د واکسین اغېزمنتوب د تل لپاره دوام نه مومي؛ نو د یادې ناروغۍ پر وړاندې د بدن د خوندیتوب د ډاډمن کېدو لپاره باید په هرو لسو کلونو کې یو ځل پیاوړي کوونکي درمل او واکسین ترلاسه شي.

د امریکا په متحده ایالتونو کې په آسانه توګه واکسین ته د لاسرسي له کبله دا ناروغي ډېره لږه تر سترګو کیږي؛ خو د افغانستان په څېر په وروسته پاتې هېوادونو کې د دې ناروغۍ ګواښ زیات دی.

**پر تیتانوس د اخته کېدو لاملونه څه دي؟**

د (Clostridium tetani) په نوم باکټریاوې د تیتانوس د رامنځته کېدو سبب کیږي، دا میله ډوله (Bacillus) باکټریا کولای شي سپور تولید کړي او خپل ځان پکې را ونغاړي؛ تر څو د لوړې تودوخې په څېر چاپېریالي عواملو سره مقاومت وکړای شي، دا باکټریاوې کولای شي په ګردونو او لوګیو، خاوره او د حیواناتو په فضولاتو کې پایښت ومومي، کله چې دا باکټریاوې د بدن د پرې شوي ځای یا ژور ټپ له لارې د انسان بدن ته داخلیږي، هلته د هوا په نشتون کې تکثر (زیادښت) مومي او د تیتانوسپاسمین (tetanospasmin) په نوم زهر تولیدوي، دا زهر عضلاتو ته د عصبي نخاع سېګنالونه بندوي، دا حالت کولای شي د عضلاتو د شدید شخوالي سبب وګرځي.

د ژورو ټپونو په څېر د بدن شدید زیانمنتوبونه، سوځېدل، له سوري کولو، خالکوبۍ (ټېټو لګولو) او نشه یي توکو د کارونې له لارې رامنځته شوي ټپونه، پر خاورو او فاضله موادو ککړ شوي ټپونه تر ډېره پر تیتانوس له اخته کېدو سره اړیکه لري؛ خو د حیواناتو له لوري داړل، پر بدن د غاښونو ټینګول د حشراتو له لوري چیچل او داسې نور

موارد پر تیتانوس له ککړېدو سره ډېره کمه اړیکه لري، پر تیتانوس ککړېدل په ټوله نړۍ کې پېښېږي، خو تر ډېره په تودو، مرطوبو او خاورینو سیمو کې رامنځته کیږي، همدارنگه په گڼ نفوسه سیمو کې هم د تیتانوس ډېرې پېښې تر سترگو کېږي.

**د تیتانوس ناروغۍ له عامل سره د مخ کېدو څخه د ناروغۍ تر رامنځته کېدو پورې موده (پټه دوره):**

د ناروغۍ له اصلي عامل سره د مخ کېدو له مودې نیولې د ناروغۍ د اصلي نښو تر راڅرگندېدو پورې موده چې معمولاً له ۳ ورځو تر ۲۱ ورځو (په منځني ډول ۱۰ ورځې) ده د پټې دورې په نوم یادیږي؛ که څه هم ښایي زخم یا ټپ ته په کتو دا موده له یوې ورځې نیولې تر څو میاشتو پورې توپیر ومومي، ډېرې پېښې په ۱۴ ورځو کې راڅرگندېږي، په ټولیز ډول پټې دورې (انکوباسیون) په هغه زخمونو کې چې ډېر ژور وي لنډې وي، چې ځینې وخت له بدو پایلو او جدي ناروغیو سره مل وي.

**د تیتانوس احتمالي نښې:**

د ژامې شخوالی او ترل کېدل، په ناڅاپي ډول عضلاتي شخوالی چې تر ډېره دا نښه په ژامو کې لیدل کیږي، په ټول بدن کې دردلرونکی عضلاتي شخوالی، د خوړو تېرولو ستونزې، په چټک یا بې ارادې ډول ټکان خوړل (تشنج)، سردرد، تبه او خوله کول، د وینې په فشار کې بدلون راتلل او د زړه د ضربان چټکتیا د دې ناروغۍ احتمالي نښې گڼل کېدای شي.

**د تیتانوس ناروغۍ تشخیص**

روغتیاپالان کولای شي د ناروغ له کتنې او یو شمېر خاصو نښو د لټون له مخې دا ناروغي وپېژني؛ خو په ټوله کې داسې ځانگړې لابراتواري معاینات شتون نه لري چې یاده ناروغي دې ورباندې تشخیص او وپېژندل شي.

**د تیتانوس ناروغۍ مخنیوی او درملنه:**

په لومړیو کې باید هڅه وشي چې له هغو سرچینو سره د اړیکو پر مهال احتیاطي او خوندي کوونکو تدابیرو ته پام وشي چې د تیتانوس زېږوونکې مضرې باکتریاوې پکې ژوند کوي، په حیواني سرو او خاورو کې د لاسونو له وهلو ډډه کول او یا هم له پورتنیو سرچینو سره له اړیکو وروسته د صابون په وسیله د لاسونو پاک مینځل د دې ناروغۍ په مخنیوي کې ډېر مهم رول لري. کله چې یو شخص ټپي کېږي او یا یې هم د پښې یا بدن یوه برخه د مېخ، ستنې او یا لرگي په وسیله سورۍ یا ټپي شوې وي، له تیتانوس څخه د ژغورنې لپاره باید روغتیایي مرکز ته مراجعه وکړي؛ تر څو د انساني ایمیونوگلوبولین (HIG) او واکسین ترلاسه کولو له لارې خوندي پاتې شي، په ځانگړي ډول هغوی چې د حیواناتو سره په اړیکه کې دي، یا هم په طویله خونو یا د حیواناتو د اوسېدو په خونو کې کار کوي باید پورتنیو ټکو ته کلک پام وکړي.

په دې ناروغۍ د هر عمر وگړي اخته کېدای شي، په ماشومانو کې دا ناروغي تر ډېره تر سترگو کیږي، کله چې یوه مور د حمل پر مهال د تیتانوس پر وړاندې حساسه

> ”که چېرې کوم انسان د طبابت څخه پرته د چا درملنه وکړه" نو هغه کس یې ضامن دی.
>
> ( ابو داؤد، کتاب الطب)“

وي او واکسین یې نه وي ترلاسه کړی، ښایي له زېږون وروسته ماشوم هم په دې ناروغۍ اخته کړای شي، که مور له وړاندې د تیتانوس واکسین نه وي ترلاسه کړي له نوي زېږېدلي ماشوم سره باید احتیاطي او روغتیایي تدابیرو ته کلک پام وکړي د بېلګې په ډول که مور په ککړ یا نامناسب چاپېریال کې زېږون کوي او یا هغه وسیلې چې د نوي زېږېدلي ماشوم د نامه غوټۍ وربانديې پرې کېږي؛ که پاکوالي او روغتیایي اړخونو ته یې پام ونشي ښایي نوی زېږېدلی ماشوم په دې ناروغۍ اخته کړي، ماشوم په دې وخت کې د مور د شیدو په اخیستو کې له ستونزو سره مخ کیږي او د بدن د دردونو له کبله ډېر ژاړي؛ خو هېره دې نه وي چې دا نښې ښایي د ځینو نورو لاملونو له کبله هم وي، په نویو زېږېدلو ماشومانو کې تیتانوس کولای شي د ماشوم ژوند له ګواښ سره مخ کړي، ځینې ښځې له زېږون ٦ اوونۍ وروسته پر تیتانوس لتاړېږي چې دا حالت د (maternal tetanus) په نوم یادېږي؛ هغه میندې چې د تیتانوس اړوند واکسین یې ترلاسه کړې وي د نوموړې ناروغۍ پر وړاندې د ژغورنې وړ دي، دوی د زېږون پر مهال هم په یاده ناروغۍ نه اخته کیږی او ماشومانو ته یې هم د شیدو له لارې انټي باډي لېږدول کېږي او په دې ډول ماشومان هم له ناروغۍ ژغورل کېدای شي.

دا ناروغي چټکې پاملرنې ته اړتیا لري؛ په روغتون کې د ناروغ پالنه، د باکتریاوو د له منځه وړلو او د زهرو د تولید دکمښت په موخه د انټي بیوتیکونو پر مټ درملنه، د انساني ایمیونوګلوبولین (HIG) په وسیله د انساني تیتانوس درملنه، د تهاجمي تپونو پالنه، د عضلاتي شخوالي د کنټرول لپاره د درملو تجویزول، د انټي توکسین او اړتیا وړ انټي باډیانو ترلاسه کول او همدارنګه دې ته پام چې ناروغي څومره جدي ده، ناروغ شخص ته د آسانه تنفس اخیستو لپاره اړوند ماشین نښلول هغه څه دي چې له ناروغ سره د مرستې او درملنې په اړه کارول کیږي.
واکسین ترلاسه کول او له ټپ څخه په ښه ډول پالنه کول د تیتانوس ناروغۍ په مخنیوي کې ډېر مهم رول لري د تیتانوس د مخنیوي لپاره د tetanus-toxoid-containing vaccines په نوم واکسین کارول کېږي، چې په لنډ ډول د (TTCV) په نوم یادېږي د روغتیا د نړیوال سازمان د سپارښتنې له مخې دا واکسین په شپږو نوبتونو کې چې درې نوبته یې د ماشوم د پیدایښت په لومړیو شپږو میاشتو کې ورکول کېږي او لومړی نوبت یې د ماشوم له پیدایښت شپږ اوونۍ وروسته تطبیقېږي د دې واکسین ترڅنګ ځینې نور واکسینونه هم شته چې په بېلابېلو پړاوونو کې د ناروغۍ د مخنیوي لپاره ورکول کېږي.
همدارنګه ډاکټران کولای شي د ناروغۍ د مخنیوي لپاره په هغو حالاتو کې چې ناروغ په جدي ډول زیان لیدلی وي او ټپي شوی وي؛ خو واکسین یې نه وي ترلاسه کړي له ځینو مرستندویه درملو کار واخلي.
د واکسینو لګول د دې ناروغۍ د مخنیوي تر ټولو ښه لاره ده د تیتانوس واکسین په هرو لسو کلونو کې یو ځل لګول کېږي، دا په دې مانا ده چې که تاسې له دې وړاندې پر تیتانوس اخته شوي یاست او یا مو د تیتانوس واکسین اخیستي وي لا هم باید واکسین ترلاسه کړئ؛ تر څو د دې ناروغۍ پر وړاندې مو خوندیتوب لا زیات شي د عمر په اوږدو کې د تیتانوس واکسین ترلاسه کولو او د دې واکسینونو د اړتیا پېژندنې لپاره بېلابېلو وګړو ته سپارښتنه کیږي؛ تر څو په ټاکلې موده کې واکسینونه ترلاسه کړي او یا د واکسین ترلاسه کولو د اړتیا حالات وپېژني.

# د کانگو ناروغي یا وینه بهوونکې تبه (CCHF)

د روغتیا د ودې آمریت

د کانگو ناروغي (CCHF) یوه وژونکې میکروبي (ویروسي) ناروغي ده چې له ځارویو څخه انسانانو ته انتقالېږي. د دې ویروس تر ټولو ستره سرچینه غوا، پسه، اوزه او نور دي. د CCHF ویروس له ځارویو څخه انسان ته د یو ډول کنې په وسیله چې هیالوما نومېږي او د حیواناتو په سترگو کې ژوند کوي، انتقالېږي.

د دې ناروغۍ ویروس په مستقیم ډول د کنې له چیچلو او د کورنیو ځارویو له وینې، غوښې یا غایطه موادو سره د مستقیم تماس په وسیله انسان ته انتقالېږي خو په افغانستان کې د ناروغۍ د لېږد دوهم شکل یې معمول دی، چې ویروس یې د یوې اونۍ لپاره ممکن د ځاروي په وینه کې موجود وي.

په دغه موده کې ممکن ویروس هغو انسانانو ته انتقال شي چې له ځارویو سره نږدې تماس لري لکه بزگران، قصابان، آشپزان، وترنران او هغه کسان چې په مسلخونو کې کار کوي او یا نږدې تماس لري.

ددې ترڅنگ دا ویروس د ناروغو انسانانو د وینې او غایطه موادو سره د تماس څخه وروسته یو انسان نه بل انسان ته انتقالېږي. دا ډول انتقال اکثرا په روغتیایي مراکزو کې واقع کېږي او روغتیایي کارکوونکي د دې ډول انتقال څخه په خطر کې دي.

**د کانگو د ناروغۍ ویروس د لاندې لارو څخه خپرېږي:**

۱- که چېرې شخص د کانگو په ویروس اخته کنې په وسیله وچیچل شي.

۲- د حلالې پر وخت یا د حلالې څخه ډېر ژر وروسته د کانگو د ناروغۍ په ویروس سره د اخته ځاروي د وینې یا د نورو مایعاتو او انساجو سره د تماس په واسطه.

- ۳ د کانگو په ناروغۍ د اخته ناروغ د وینې، مایعاتو او بدن سره د تماس په واسطه.

۴- د لوڅ لاس په واسطه د کنې د وژلو له لارې.

۵- په ناخوندي ځایونو کې د ځارویو حلالولو له لارې.

۶- د نیم خامو غوښو خوړلو له لارې.

**لاندې خلک تر نورو ډېر په دغې ناروغۍ اخته کېږي؟**

• قصابان، د ځارویو ډاکتران او روغتیایي کارکوونکي

• هغه کسان چې په کرنه او مالدارۍ کې کار کوي
• هغه کسان چې د غوښو سره سر و کار لري
• د ناروغ د فامیل غړي او هغه کسان چې د ناروغ پاملرنه کوي

**د کانگو ناروغۍ کلینیکي مراحل**

د کانگو ناروغی څلور دورې لري:

**۱-د تفریخ دوره (د کلینیکي علایمو د څرگندېدو دمخه)**

د کانگو ناروغۍ میکروب بدن ته د ننوتلو وروسته د انسان په بدن کې تکثر کوي او د ۲ څخه تر ۹ ورځو وروسته یې نښې ښکاره کېږي چې همدا دوره د تفریخ دورې په نامه یادېږي.

**۲-له وینې بهېدنې مخکې دوره**

د دې دورې ځانگړتیا شدیده تبه (۳۹-۴۰ درجې)، سر دردي، د رڼا څخه وېره، د وینې فشار ټیټېدل، د زړه کمزوري ټکانونه، تېز تنفس، زړه بد والی، او د نس درد دی. اکثرا په دې دوره کې د ناروغانو په پوستکي کې دانې او سره داغونه پیدا کېږي.

۳-د وینې بهېدنې دوره

په دې دوره کې د بدن د بېلابېلو غړو لکه پوزې، ورۍ، کولمو، تناسلي لارې، تنفسي لارې، پوستکي او دماغ څخه وینه بهېدنه لیدل کېږي. دا دوره ۲ نه تر ۳ ورځو پورې دوام کوي.

٤-د رغېدنې دوره

د ښه کېدو دوره د ناروغۍ د پیل څخه ۱۰نه تر ۲۰ ورځو وروسته دی او د دې دورې ځانگړتیا د زړه تېز ټکان، د عصابو التهاب، د وېښتانو موقتي وتل، د خولې وچوالی، د سترگو ضعیفېدل، د اشتها نشتوالی، کم اورېدنه او د حافظې د لاسه ورکول دي. په ۱/ ۳ ناروغانو کې د ینې او توري غټوالی لیدل کېږي.

**د کانگو ناروغۍ د مخنیوي لارې چارې:**

**۱. د کنې له منځه وړل**

د کانگو د ناروغۍ د مخنیوي لپاره باید له خپل چاپېریال څخه په لاندې توگه کنې له منځه یوسئ:

- د څارویو په ځایونو کې لږ تر لږه په کال کې دوه ځلې (له پسرلي څخه تر منې) پورې لازم درمل وپاشئ.
- څاروي او د اوسېدو ځایونو کې یې د کنو ضد ځانگړي درمل په پخپله او یا هم د څارویو روغتیایي کارکوونکو په مرسته وپاشئ.

-څاروي مو په هغو ډنډونو کې چې د کنو ضد درمل



پکې وي ولمبوئ.

- د کنو ضد درمل د ځارویو د کلینیکونو څخه په هر ځای کې اخستی شئ او د ځارویو د روغتیایي کارکوونکو د سپارښتنو سره سم یې وکاروئ.

**۲. د کانګو په ناروغۍ د اخته کېدو او خپرېدو مخنیوی**

-د ځارویو د حلالې او غوښې غوځولو په ځانګړې ډول د لوی اختر د قربانۍ پر مهال له محافظتي وسایلو لکه دستکشو، ماسک، پېش بند او عینکو کار واخلئ، چې د کانګو په ناروغۍ اخته نه شئ.

-د کانګو ناروغۍ د مخنیوي لپاره په ناخوندي ځایونو کې د ځاروي له حلالې څخه ډډه وکړئ او ځاروي په پاکو او خوندي ځایونو کې حلال کړئ.



كني انځور

-د کانګو ناروغۍ د مخنیوي لپاره د ځارویو غوښه له کارولو مخکې ۲۴ ساعته یخچال کې وساتئ.

-د کانګو ناروغۍ د مخنیوي لپاره د ځارویو کنې په لوڅو لاسونو مه لرې کوئ او مه یې وژنئ.

**۳. په کانګو د اخته ناروغ پاملرنه**

که د کورنۍ غړي مو تبه، ځان درد، کانګې، له پوزې او خولې او پوستکي وینه بهېدنه ولري ممکن د کانګو تبه ولري، ناروغ ژر تر ژره روغتیایي مرکز ته یوسئ چې په وخت یې تشخیص او درملنه وشي.

له روغتون رخصتېدو وروسته باید ناروغ په ټولنه کې د ټولنې روغتیایي کارکوونکو له خوا نظارت لاندې وي.

هغه کلي چې د کانګو مثبته پېښه پکې وي نه یوازې ناروغ بلکې د ټول کلي خلک باید د مخنیوي تدابیر عملي کړي.

یادونه: روغتیايي او د ځارویو روغتیایي کارکوونکي باید په کانګو اخته کس ته د کانګو د خپرېدو مخنیوي او د کنو له منځه وړلو په اړه لازم معلومات ورکړي.

> ”حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم منعه فرمایلي په داسي دواء سره له علاج نه چې هغه انسان ته ضرر رسوي لکه زهر.
>
> ابن ماجه، کتاب الطب )“



# په افغانستان کې د پولیو پر وړاندې مبارزې ته کتنه

محمد میرجان راسخ
د پولیو د له منځه وړلو ملي بېړني عملیاتي مرکز د عامه اړیکو مسئول

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت د پولیو د له منځه وړلو پروګرام چې د ملي بېړني عملیاتي مرکز له خوا یې رهبري کېږي د پولیو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې یې خپل فعالیتونه ګړندي کړي دي، په ۲۰۲۲ کال کې د پولیو د مثبتو پېښو شمېر ته په کتو، چې یوازې دوه پېښې ثبت شوې وې، نو تمه کېده چې په ۲۰۲۳ کال کې به د پولیو پېښې صفر ته را کښته شي؛ نو له دې کبله، په ۲۰۲۳ کال کې د پولیو د ناروغۍ خطر ډېر کم محسوس کېده او د روان کال لپاره په ټول هېواد کې د پولیو ۲ پړاوه سرتاسري کمپاینونه او د هېواد په ځینو سیمو کې ۴ پړاوه فرعي کمپاینونه چې په ټوله کې ۶ پړاوونه کېدل په نظر کې نیول شوي وو، چې پلې شي.

خو له بده مرغه د تمې خلاف د افغانستان په ختیځو ولایتونو په ځانګړې توګه ننګرهار او کونړ ولایتونو کې د پولیو ویروس مثبتې نمونې په ککړ چاپېریال او ناپاکو اوبو کې په ناڅاپي توګه زیاتې شوې او د روان کال د اکتوبر تر لومړۍ اوونۍ پورې د پولیو د ویروس د چاپېریالي مثبتو نمونو ۳۳ پېښې ثبت شوې دي.

په ختیځو سیمو کې د پولیو د ویروس ثبت کېدل او خپرېدل اندېښنې زیاتې کړې او د مخنیوي کوونکو هڅو د تر سره کولو سره سره له بده مرغه د روان زېږدیز کال په بهیر کې د اکتوبر میاشتې پورې د ننګرهار ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې شپږ تنه ګلالي او معصوم ماشومان په دې ناروغۍ اخته شول، چې له بده مرغه د تېر کال په پرتله دوه مثبتې پېښې زیاتې شوې.

د پولیو د له منځه وړلو ملي بېړني عملیاتي مرکز په بېړني او منظمه توګه په ختیځه سیمه کې د پولیو ویروس د خپرېدو او د مثبتو پېښو د پیدا کېدو په پار د دغه پروګرام له کاري شریکانو لکه د روغتیا د نړیوالې ادارې، د یونیسف ادارې، د بیلګېټس بنسټ او رویټري انټر نشنل استازو سره په وار وار غونډې و نیولې؛ ترڅو د پولیو پر وړاندې د مبارزې لپاره د نویو لارو چارو

په پلي کولو او د فعالیتونو د ګړندي کولو په اړه خبرې او لازمې پرېکړې ونیسي؛ تر څو د دې ناروغۍ د لا پراخېدو مخه ونیسي.

په همدې اساس پرېکړه وشوه، چې د افغانستان په ختیځو سیمو کې د پولیو پېښو ته د ځواب ویلو په موخه ځانګړې کمپاینونه پیل شي او همدا راز د پولیو واکسین د سرتاسري او فرعي کمپاینونو په شمېر کې زیاتوالی راشي د دې پرېکړو په پایله کې په ختیځو سیمو لکه د ننګرهار، کنړ، نورستان او لغمان ولایتونو کې د پولیو واکسین ځانګړې ځوابیه ۴ پړاوه کمپاینونه او دا چې په بلخ او کندهار ولایتو کې د پولیو ویروس یوه یوه چاپېریالي نمونه تایید شوې، دغه دوو ولایتونو کې د پولیو واکسین ځانګړې ځوابیه یو یو پړاو کمپاینونه پلي کړای شوو.

په همدې ډول د پولیو سرتاسري کمپاینونه له دوو پړاوونو څخه درېو پړاوونو ته او د فرعي کمپاینونه له ۴ پړاوو څخه ۵ پړاوونو ته لوړ شول، تر اوسه د هېواد په کچه درې سرتاسري پړاوه کمپاینونه او په ځینو لوړ خطر سیمو کې درې فرعي کمپاینونه پلي شوي دي.

د دې تر څنګ د پولیو د له منځه وړلو پروګرام د پوهاوي، پیاوړتیا او څارنې فعالیتونو په برخو کې هم یو لړ مهم فعالیتونه په لاره اچولي؛ تر څو د پولیو لا علاجه وژونکې او فلج کوونکې ناروغۍ مخه ونیسي او له منځه یې یوسي.

په روان کال کې د واکسین د ښه منلو په موخه د "ټولنیز چلند بدلون" تر نامه لاندې د عامه پوهاوي پراخ پروګرام او د واکسیناسیون او نورو لومړنیو روغتیایي خدمتونو په اړه د پوهاوي په موخه "د هیلو وړانګې" تر نامه لاندې یوه تعلیمي او تفریحي راډیویي خپرونه په لاره اچول شوې ده.

په همدې ډول د روان کال د سپتمبر په ۲۱ مه نېټه د ټیلیفوني اړیکو مرکز (کال سنټر) پرانیستل شو چې د لیکلي او غږیز پیغامونو او اغېزمنو ټیلیفوني خبرو اترو له لارې د عامه پوهاوي کچه لوړه کړي د پولیو د له منځه وړلو د پروګرام له فعالیتونو څخه د لیږې واټن له لارې څارنه او نظارت وکړي او همدارنګه ځینې اړینې سروې ګانې ترسره کړي، همدا راز د ټیلیفوني اړیکو مرکز د ۱۴۱ وړیا شمیرې له لارې د یو دوه اړخیز ټیلیفوني اړیکې نیولو وړیا زمینه برابره کړې، چې هېوادوال کولای شي په وړیا توګه دغې شمېرې ته زنګ ووهي او له خپلو سیمو څخه د واکسیناسیون فعالیتونو په اړه شکایت، نظر او وړاندیز له دې مرکز سره شریک کړي.

د دې فعالیتونو په ګړندیتوب سره هیله مند یو چې په راتلونکې کې به د پولیو مثبتې پېښې کمې شي او افغانستان به د تل لپاره له دې ناروغۍ خلاص شي؛ دا مهال په نړۍ کې یوازې افغانستان او پاکستان هغه دوه هېوادونه دي چې پولیو په کې نه ده ختمه شوې.

د یادونې وړ ده چې د پولیو پر وړاندې مبارزه کې د خلکو، دیني عالمانو، سیمې مشرانو او نورو مخورو کسانو همکارۍ ډېره اړینه ده، چې د واکسین د اهمیت په اړه خلکو ته پوهاوی ورکړي او دوی دې ته وهڅوي چې د پنځو کالو کم عمره ماشومان د دې لا علاجه، وژونکې او دایمي فلج کوونکې ناروغۍ پر وړاندې واکسین کړي.

> حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه فرمايي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: تاسو په ناروغانو باندې په زور خوراک او څښاک مه کوئ، بېشکه الله تعالی خوراک او څښاک ورکوي.
>
> (البخاري، کتاب الطب)



# مرض سگ دیوانه

دوکتور دین محمد حبیبی
رئیس پولی کلینیک مرکزی

**مقدمه:**

مرض سگ دیوانه ازجمله امراض ویروسی و شدیدا کشنده میباشد که توسط حیوانات به انسانها انتقال میابد ویروس مذکور در لعاب دهن سگ دیوانه موجود میباشد، زمانیکه سگ دیوانه یک انسان را میگزد توسط گزیدن و مجروح شدن به انسانها و دیگر حیوانات انتقال میابد، مرض ربیس در سراسر جهان موجود میباشد، بعضی از کشور های جهان با به راه انداختن کمپاین های امحا، امروز عاری از ربیس اند، در حالیکه این مرض در بعضی کشورها اصلا وجود ندارد.

**تعریف مرض:**

مرض سگ دیوانه که (hydrophobia) هم نامیده میشود یک مرض حاد ویروسی وشدیدآ کشنده میباشد.

**تعریف ویروس:**

ویروس عامل عفونی کننده ای بیسار کوچک است که توسط چشم دیده نمیشود، ویروسها باعث امراض مختلف در نزد انسانها میگردد.

**انتشار مرض:**

مرض سگ دیوانه از جمله امراض مشترک بین الفقاره (zoonosis) بوده انتشار آن از حیوانات به انسانها ممکن میباشد.

**عامل مرض ( Agent ):**

عامل مرض (1-lyssviras-typ) بوده اساسآ (zoonosis) مرض حیوانات خون گرم خصوصآ سگ پشک شغال و گرگ میباشد، شکل کلاسیک مرض یا مشخصات کلینیکی دوری تفریخ مرض متغیر کوتا ویا طولانی بوده از ۱۰ روز الی ۲ سال و طور اوسط یک الی دو ماه میباشد، که با وجود تمام مراقبت های پیش رفته به مرگ می انجامد، این یگانه مرض انسانها است که همواره کشنده است.

**منبع انتان – ( source of infection ):**

۱ : لعاب دهن

لعاب دهن حیوان منبع عمده انتان را براي انسان ها تشکیل میدهد، سه تا چهار روز قبل از شروع اعراض و علایم کلینیکي Virus در Saliva سگ و پشک وجود میداشته باشد.

۲ : لیسیدن ( Licks ) :

حیوان با لیسیدن خراشیده گی و تخریشات جلد و غشای مخاطی میتواند عامل مرض را به شخص منتقل نماید، چون سگ عادت به لیسیدن دارد در موارد خیلی ها نادر الودگی پارچه استخوانی که قبلا سگ دیوانه آنرا لیسیده باشد و یا سایر اشیا واجسام که با لعاب دهن سگ دیوانه آلوده شده باشد، برای ابتلا به این بیماری یک چانس خواهد بود.

۳ : انشاق:

انشاق از طرق سیستم تنفسی را ممکن می سازد آن هم در مورد نادر (مثلآ خفاش مصاب Rabies در مغاره ای پناه برده باشد که انسان هم در آن باشد).

۴ : از طریق شیر گاو :

در صورتیکه یک گاو ویروس ربیس را گرفته باشد ۱۰ روز قبل از اینکه اعراض و علایم از خود نشان دهد ویروس در لعاب دهن آن موجود میباشد و هر گاه از شیر آن استفاده گردد و به صورت درست آن جوشانده نه شود و یا به صورت خام از آن استفاده گردد، میتواند ویروس ربیس را به انسانها انتقال دهد.

۵ : انسان به انسان ( Person to Person ) :

انتقال ویروس از انسان به انسان میتواند از طریق پیپچکاری، سامان آلات طبی، کشیدن دندان، چک انداختن، مکیدن شیر مادر به طفل، لعاب دهن، پیوند قرنیه و یا پیوند سایر اعضا نیز صورت گیرد.

**تداوی مریضان مصاب به مرض :**

ربیس کدام تداوی مشخص نداشته در رسیدگی به واقعات باید سیر و پروسیجر و عملیه ذیل در نظر گرفته شود: مریض باید در یک اطاق آرام که به قدر کافی و ممکن از رسیدن تنبیهات خارجی مثل روشنی، سر وصدا، ورزش شمال سردی محافظت شده باشد تجرید گردد.

**تداوی موضعی جرحه یا وخذه :**

تداوی موضعی جرحه یا وخذه جرحه و تخریش ناشی از گزیدگی حیوان مشکوک اولین اقدام بسیار با اهمیت تداوی سریع و ناگزیر در وقایه از خطر Rabies میباشد هدف از این تداوی دور ساختن و خنثی ساختن هر چه بیشتر ویروس ها در ناحیه جرحه قبل از آنکه خود را به نهایات رشته های عصبی برسانند و جذب شوند میباشد، تداوی موضعی ارزش نهایت مهمی در وقایه از خطر دارد، ثابت شده است هرگاه تداوی موضعی جرحه سریعآ وبصورت مناسب صورت گیرد ۸۰٪ خطر Rabies را کاهش میدهد.

**واکسین Rabies:**

عبارت از یک مایع یا مستحضر خشک آماده شده از ویروس (Fixed) که در نسج دماغ خرگوش، گوسفند، بز، موش، در تخم القاح شده مرغابی و کلچر حجرات نشو و نمو نموده که به طریقه مصون غیر فعال گردیده تهیه گردیده است، تمام واکسین ها بر اساس میتود طریقه و پروسیجر هایکه سازمان صحی جهان تعین نموده است ازموده شده و تائید گردیده اند، واکسین Rabies اولین بار توسط لوئی پاستور کشف و در طی انکشافات بعدی تنوع در واکسین بوجود آمد.

# کلچرک چیست؟

رنخوریار داکتر فریدالله (عمری)
ترینر متخصص امراض انتانی

برای اولین بار گوشک یا کلچرک را بقراط یا هیپوکرات که بنام (پدر علم طب) هم شهرت دارد (۴۱۰) سال پیش از میلاد در جزیره تاتوس یونان توصیف کرد، همچنان طی قرن های (۱۹) و (۲۰) مطالعات زیادی در باره کلچرک صورت گرفت که در نهایت دو محقق به نام های کلود جانسن و ارنست گود پستچر در سال (۱۹۳۴) موفق به کشف عامل مریضی کلچرک شدند و آنها متوجه شدند که میمون های رزوس مصاب این وایرس هستند.

**تعریف:**

کلچرک یا گوشک عبارت از یک مریضی حاد، ساری، ویروسی، و یک مشکل صحی در سطحه ممالک رو به انکشاف میباشد که سبب تورم یک طرفه یا دوطرفه غده پاروتید و سایر غده وات لعابیه می شود.

**انتقال:**

۱- از طریق قطرات هوایی که توسط سرفه یا عطسه مریض به دیگر اشخاص سالم جامعه به شکل شبنم انتشار میکند.

۲- مریضی کلچرک میتواند از سطح منتن توسط مریض به اشخاص سالم انتقال گردد.

۳-از مادر به جنین میتواند وایرس کلچرک انتقال کند؛ اما در سه ماه اول حاملگی میتواند سبب سقط نزد مادران حامله شود.

**کسانیکه در خطر بلند قرار دارند:**

۱- اطفال که سن شان از (۵ الی ۹) سال می باشد.

۲- نوجوانان و خانم های حامله.

۳- کسانیکه در فامیل شان مریض کلچرک دارند.

۴- کسانیکه واکسین کلچرک اخذ نکرده باشند.

**اعراض اعلایم :**

دوره تفریغ کلچرک (۱۹) روز است که بشکل متوسط (۷-۲۳) روز می باشد.



**تداوی:**

۱- مریضی کلچرک تداوی خاص ندارد تنها به شکل حمایتی تداوی می شود.

۲- توصیه ادویه ضد درد برای آرام کردن درد غده پاروتید ، بیضه و تب می باشد.

۳- توصیه کامپرس گرم یا سرد برای درد و التهاب غده پاروتید همچنان برای درد و التهاب بیضه کامپرس سرد یا ملایم کمک کننده میباشد.

۴- برای مریضان کلچرک توصیه ادویه کورتیکوستروید مفید نمی باشد.

۵ – تجویز (انتر فیرون الفا دو) تحت الجلدی ممکن برای حفظ بعضی ارگان ها کمک کننده باشد ولی تحقیقات تا فعلاً نهایی نشده است.

**وقایه:**

۱- پیشگیری از کلچرک معافیت فعال یا واکسین میباشد و واقعات کلچرک را به (۹۰٪) کاهش داده است.

۲- واکسین کلچرک یک واکسین زنده ضعیف شده است که این واکسین در ۱- خانم های حامله ۲- کسانیکه حساسیت دارند با واکسین ۳- در معافیت ضعیف ۴- شیموتراپی ۵- کسانیکه تحت تداوی دوامدار امراض مزمن قرار دارند توصیه نمیشود و استطباب ندارند.

> ”د سرطان مخنیوي لپاره د خوراکي توکو او تودې ډوډۍ د وړلو او ساتلو لپاره د پلاستيکي کخوړو کاروني څخه ډډه وکړئ.“

## د عامې روغتيا وزير، ښاغلي ډاکټر قلندر عباد او ورسره مل پلاوي په قطر هېواد کې د ”روغتيايي وضعيت او د ماشومانو فلج“ تر عنوان لاندې جوړ شوي کنفرانس کې ګډون وکړ



دغه کنفرانس چې د قطر هېواد د روغتيا وزارت په همکارۍ جوړ شوی و، د روغتيا نړیوال سازمان، یونیسف او د بېلګېټس بنسټ مسئولینو په کې ګډون کړی و.

د عامې روغتيا وزارت له لوري په افغانستان کې د پوليو اوسنی وضعيت، لاسته راوړنې او راتلونکي پلانونه د مجلس له ګډونوالو سره شريک شوه، چې د ګډونوالو له لوري په دې او نورو روغتيايي برخو کې د لا ښې همغږۍ او همکارۍ ډاډ ورکړل شو.

د يادونې وړ ده، چې د دې کنفرانس موخه په پاکستان او افغانستان کې د پوليو عمومي وضعيت ارزول، په دې هېوادونو کې تر اوسه دغه ويروس شتون دلايلو او په بشپړه توګه د له منځه وړلو په اړه بحث او خبرې ترسره شوې.



د جمهوریت روغتون ودانۍ



# د څلور میلیارده افغانیو په لګښت سره به د جمهوریت روغتون ریفورم او ډیزاین ترسره شي چې عملاً یې ودانیزې چارې پیل شوې!

په همدې موخه جوړو مراسمو کې د عامې روغتیا وزیر ښاغلي ډاکټر قلندر عباد، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزیر مولوي نجیب الله حقاني، د کور او ښار جوړولو وزیر مولوي حمدالله نعماني، د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال مولوي محمد اسحق صاحبزاده، د ملي پراختیا شرکت د مالي او اداري چارو مرستیال مولوي عبدالولي عادل او روغتیایي کارکوونکو ګډون کړی و.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي ډاکټر قلندر عباد د جمهوریت روغتون ریفورم او ډیزاین د هېواد په تاریخ کې یو ستر ګام وګاڼه او و یې ویل: ( د جمهوریت روغتون به په داسې شکل سره ډیزاین، ریفورم او جوړېږي چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه به متخصصین او ډاکټر صاحبان چې دوی په بهر کې په مختلفو برنامو کې خدمتونه وړاندې کوي دا روغتون به دې ته چمتو وي چې دوی خپل هېواد ته راشي او د دې روغتون له لارې خپلو ولسونو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي.)

ښاغلي وزیر همداراز وویل: (د اسلامي امارت د شفقت او ترحم له مخې د جمهوریت روغتون د ریفورم، ډیزاین او جوړېدو لپاره څه دپاسه څلور میلیارده افغانۍ ځانګړې شوې دي.)

نوموړي همداراز زیاته کړه: (دا د افغانستان په تاریخ کې لومړی ځل دی چې د یو روغتون د ریفورم لپاره په دې کچه ستره بودیجه په پام کې نیول شوې ده؛ ددې لپاره چې نور مو هېوادوال اړتیا پیدا نکړي؛ تر څو د درملنې په موخه بل هېواد ته لاړ شي.)

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزیر مولوي نجیب الله حقاني روغتیا د الله تعالی یو ستر نعمت وګاڼه او ویې ویل: (د حکومت لومړنۍ دنده دا ده چې د خپل ملت روغتیا ته پام وکړي، په تېرو شلو کلونو کې د ملت روغتیا او روغتیایي برخې ته پام نه وو شوی؛ خو اوس په معیاري ډول د روغتونونو د جوړېدو لپاره په پوره ژمنتیا سره کار روان دی.)

(۳۱۷) مېلیونه افغانۍ د جمهوریت روغتون په ودانیزو چارو او دوه میلیارده (۶۷۰) میلیونه افغانۍ به دې روغتون ته طبي تجهیزات اخیستل کېږي. همدارنګه (۹۲۱) میلیونه افغانۍ د دې روغتون په معاشاتو، (۱۰) میلیونه افغانۍ به د بېړنۍ خونې لپاره درمل اخیستل کېږي، (۱۴۴) میلیونه افغانۍ د عملیاتي لګښت لپاره، ۱۸ میلیونه افغانۍ د طبي مصرفي توکو لپاره او غیر طبي تجهیزاتو لپاره (۱۰) میلیونه افغانۍ په پام کې نیول شوي دي.

د یادونې وړ ده چې د کور او ښار جوړولو وزیر، ښاغلي مولوي حمدالله نعماني د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال هر یو په خپل وار سره خبرې ترسره کړې او د دې روغتون ریفورم او جوړېدنه یې د ولس لپاره یو ستر زېری وګاڼه.

# د ۲۹۶ میلیونه افغانیو په لګښت د مور او ماشوم روغتون پرانیسته ترسره او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



دغه روغتون د ریاست الوزرا اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د عامې روغتیا وزیر ښاغلي ډاکټر قلندر عباد، د مخابراتو او ټکنالوژۍ وزیر مولوي نجیب الله حقاني، د بیات بنسټ رئیس ډاکټر احسان الله بیات او د مختلفو ادارو د استازو په شتون کې پرانیسته ترسره او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د ریاست الوزرا اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي ددغه روغتون د جوړېدو له امله له ښاغلي بیات څخه مننه او قدرداني وکړه او ویې ویل: دغه ودانۍ د ۲۹۶ میلیونه افغانۍ په لګښت په څلورو پوړونو کې په اساسي او معیاري ډول سره جوړه شوې ده چې د میندو او ماشومانو درملنه به په کې ترسره شي، ښاغلي حنفي همداراز په بېلابېلو برخو کې د اسلامي امارت د لاسته راوړنو په اړه ګډونوالو ته معلومات ورکړل او ویې ویل: اوس د بل هر وخت په پرتله په هېواد کې دننه ټولو افغانانو ته دا زمینه برابره شوې چې بېرته خپل هېواد ته ستانه شي او د هېوادوالو د خدمت جوګه و ګرځي.

له بلې خوا د عامې روغتیا وزیر ښاغلي ډاکټر قلندر عباد د دغه روغتون جوړېدل په هېواد کې د میندو او ماشومانو د مړینې د کچې د کمولو په برخه کې یو اغېزمن ګام وباله او د ښاغلي بیات له دغه اقدام څخه یې مننه او قدرداني وکړه.

همدارنګه د عامې روغتیا ښاغلي وزیر د مور او ماشوم د مړینې د کچې د راټیټولو، معیاري روغتیایي خدماتو ته د ټولو هېوادوالو د لاسرسي، د هېواد په سپینو ساحاتو او ولسوالیو کې د روغتونونو او روغتیایي مراکزو د جوړولو په اړه د افغانستان اسلامي امارت او د عامې روغتیا وزارت د تعهد او ژمنتیا په اړه ګډونوالو ته معلومات وړاندې کړل.

ښاغلي وزیر همداراز وویل: د مسلکي او متخصصو کسانو ګمارل د لومړنیو، ثانوي او ثالثي روغتیایي خدماتو د کیفیت ښه والی د روغتیایي کارکوونکو لپاره د زده کړو د زمینې برابرول، د لنډمهاله او اوږدمهاله کړنلارو او ستراتېژیک پلانونو جوړول د روغتونونو ارتقاء له هغه مواردو څخه دي چې عملاً کار پرې جریان لري.

د یادونې وړ ده، چې د مور او ماشوم روغتون ۸۴ بسترونه لري، ۶۰ بسترونه یې د میندو او ۲۴ نور بسترونه یې د ماشومانو لپاره دي، دغه روغتون په عصري طبي وسایلو سمبال دی، چې د بیات بنسټ له لوري په څلورو پوړونو کې د اندراګاندي د ماشومانو د درملنې روغتون په انګړ کې جوړ شوی چې رسماً پرانیستل شو.

# د قابلې نړيوالې ورځې په وياړ د ټولنې د لرې پرتو سيمو د ۲۴ قابلو د فراغت غونډه ترسره شوه

په ياده غونډه کې  د عامې روغتيا وزارت ښاغلي وزير ډاکټر قلندر عباد، د اطلاعات او کلتور وزارت نشراتي معين ښاغلی مولوي حيات الله فراهي، په افغانستان کې د قطر سرې مياشتې د دفتر رئيس ښاغلي احمد العثماني، د کورنيو او بهرنيو مؤسساتو استازو د فارغو شويو قابله وو د کورنيو غړو ګډون کړی و.



ښاغلي وزير په روغتيايي مراکزو کې د قابله وو، نرسانو او ډاکټرانو د ونډې پر مهموالي خبرې وکړې او ويې ويل ، روغتيايي مراکز که په هره کچه او هر چېرې وي؛ خو مراجعين يې د يوې سيمې ټول قشرونه ( ښځينه او نارينه) دي او دوی به په شرعي حجاب کې د خپلو خويندو او ميندو خدمت ترسره کوي.




ښاغلي وزير همداراز زياته کړه چې د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي پرسونل د ظرفيت پر لوړونې کار کوي او هڅه کوي چې د وخت له علمي او عصري معياراتو سره برابر روغتيايي پرسونل و روزي.

همدارنګه د اطلاعات او کلتور وزارت د نشراتو معين ښاغلي فراهي په ټولنه کې د قابله وو، نرسانو او ښځينه ډاکټرانو پر ارزښت او اهميت خبرې وکړې او په دې برخه کې د عامې روغتيا وزارت د کارونو ستاينه او قدرداني يې ترسره کړ.

د يادونې وړ ده چې دغه ۲۴ قابله ګانې د هېواد له لرو پرتو سيمو څخه د ازموينې له لارې برياله او د دوه کلنو زده کړو وروسته يې د فراغت سندونه ترلاسه او بيرته په لرو پرتو سيمو کې هېوادوالو ته خدمت ترسره کړي.

## د عامې روغتیا وزیر ښاغلي ډاکټر قلندر عباد، ارزګان ولایت ته د سفر په ترڅ کې د ارزګان ولایتي روغتون ته له ۷۰ بسترونو څخه ۱۵۰ بسترونو ته ارتقاء ورکړه



د عامې روغتیا وزیر ښاغلي ډاکټر قلندر عباد، د ارزګان والي ښاغلي مولوي محمد علي جان احمد، د ارزګان عامې روغتیا رئیس ډاکټر محمدالله روحاني او ورسره مل پلاوي د ارزګان ولایتي روغتون له بېلابېلو څانګو څخه لیدنه ترسره او دغه روغتون ته يې له ۷۰ بسترونو څخه ۱۵۰ بسترونو ته ارتقاء ورکړه.

ښاغلي وزیر همداراز د ارزګان ولایتي روغتون څخه د لیدنې پرمهال ډاډ څرګند کړ، چې د ارزګان ولایت په ټولو ولسوالیو کې د ولسوالیو په کچه روغتونونه ( DH ) جوړو او په دې برخه کې پوره پلان او ژمنتیا شتون لري.

ښاغلي وزیر زیاته کړه، چې د ارزګان ولایت روغتیایي کارکوونکو د ظرفیت لوړونې په برخه کې کار کېږي او دوی به د کابل په بېلابېلو تخصصي روغتونونو کې روزنه ترلاسه کړي؛ تر څو د دې ولایت روغتیایي ستونزې حل کړي.

د ارزګان والي، مولوي محمد علي جان احمد د عامې روغتیا وزارت له ښاغلي وزیر څخه ارزګان ولایت ته له راتګ او روغتیایي ستونزو ته د رسېدنې مننه او قدرداني وکړ او و ويې ويل، په دې دوو کلونو کې په روغتیایي برخه کې ارزګان ولایت ته ډېر خدمت شوی دی چې ساری يې نه لیدل کېږي.

د عامې روغتیا وزارت ژمن دی، چې د هېواد په ټولو نیږدې او لرې پرتو سیمو کې هېوادوالو ته معیاري روغتیایي خدمات وړاندې کړي.

## فراغت پنجاه تن از داکتران از برنامه اپدیمي‌لوژي ساحوي

وزارت صحت عامه، طی نشستی به پنجاه تن از داکتران که دوره آموزشی شان را در بخش اپدیمی‌لوژی ساحوی به اتمام رسانیده بودند سند فراغت دادند.

داکتر قلندر عباد وزیر صحت عامه، فراغت این داکتران را از برنامه مذکور یک امر نیک خوانده و نقش آنان را در راستای راه اندازی ارزیابی های ساحوی و جمع آوری اطلاعات ارزنده خواند.

وزیر صحت عامه، همچنان معیاری سازی خدمات صحی را از اولویت‌های مهم این وزارت دانسته گفت که در این راستا تلاش‌ها جریان دارد تا خدمات صحی در سراسر کشور معیاری گردد.



د عامې روغتيا وزارت د غونډو تالار

داکتر قلندر عباد، هم‌چنان گفت که ظرفیت سازی در بخش صحت یک امر ضروری است و در دو سال گذشته در این راستا کارهای زیادی صورت گرفته است.

## په میرویس حوزوي روغتون کې د پنځه سوه زره ډالرو په لګښت د اکسیجن د تولید دستګاه فعاله او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه




د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې (USAID) په مالي لګښت او د ښاري روغتیا نوښت پروګرام ( UHI) په تخنیکي همکارۍ د کندهار په میرویس حوزوي روغتون کې د پنځه سوه زرو امریکایي ډالرو په لګښت د اکسیجن د تولید دستګاه فعاله او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

یاده دستګاه په یوه دقیقه کې ۲۸۳ لیتره اکسیجن د تولید وړتیا لري او د ګټې اخیستنې په موخه ورته مسلکي کسان هم روزل شوي دي.

# د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي ډاکټر قلندر عباد د کندهار ولایت د عینو مېنې ۳۵۰ بستریز روغتون له فعالیتونو او اجرااتو څخه لیدنه ترسره کړه



د عامې روغتیا وزیر ښاغلي ډاکټر قلندر عباد د کندهار ولایت ته د سفر په ترځ کې د عینو مېنې ۳۵۰ بستریز روغتون له بېلابېلو څانګو او په یاد روغتون کې له بستر ناروغانو څخه لیدنه ترسره کړه، ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل او د حل ډاډ یې ورکړ.

ښاغلي وزیر همداراز د یاد روغتون، روغتیایي کارکوونکو ته د ولس د ښه خدمت په موخه لازمي سپارښتنې ترسره کړې او ډاډ یې ورکړ؛ تر څو د دې روغتون د روغتیایي خدمتونو کیفیت، کمیت او د روغتیایي کارکوونکو د روزنې او ظرفیت لوړونې برخې ته به ځانګړې پاملرنه کوي.

د عامې روغتیا وزارت پلان لري، چې په یاد روغتون کې ځینې اختصاصي روغتیایي برخې فعالې کړي؛ ترڅو د ولس اړتیاوو ته په کتو هغه روغتیایي خدمتونه چې اړین وي ترلاسه کړي.

# د عامې روغتیا وزیرښاغلي ډاکټر قلندر عباد د هرات ولایت د زلزله ځپلو سیمو څخه لیدنه ترسره کړه



د عامې روغتیا وزیر ښاغلي ډاکټر قلندر عباد د هرات ولایت زنده جان ولسوالۍ له زلزله ځپلو سیمو څخه لیدنه ترسره کړه او د دغه غمجنې پېښې له امله یې اغېزمن شوو هېوادوالو ته د خواخوږۍ او ډاډګیرنې مراتب وړاندې کړل.

ښاغلي وزیر همداراز د اغېزمن شوو هېوادوالو کورنیو ته د ټپیانو د ښې درملنې او روغتیایي وضعیت ته یې د بشپړې پاملرنې ډاډ ورکړ.

# به تمام زخمی های آسیب دیده‌گان زلزله هرات رسیده‌گی صورت گرفته است



داکتر قلندر عباد وزیر صحت عامه، پس از بازگشت اش از ولایت هرات، امروز در یک نشست خبری در رابطه به چگونه‌گی رسیده‌گی به زخمی های ناشی از زلزله ولایت هرات معلومات داده گفت که به تمام زخمی ها رسیده گی فوری صورت گرفته است.

وزیر صحت عامه، اظهار نمود که تیم های صحی، پس از وقوع زلزله فورا به ساحه رسیده و برای رسیده‌گی به زخمی ها، فراهم سازی بسته های صحی و انتقال اجساد شهدا به مراکز صحی اقدام جدی نموده اند.

داکتر قلندر عباد همچنان گفت که برای آسیب دیدگان زلزله، دوا، تجهیزات، مواد خوراکی، آب آشامیدنی، خیمه های سیار و دیگر وسایل مورد نیاز از سوی امارت اسلامی فراهم گردیده است ولی با آن هم آنان نیاز به کمک های بیشتر دارند.

وزیر صحت عامه، در ادامه سخنانش اشاره نموده تاکید کرد که حدود (۶۰) تیم صحی سیار، (۶۰) عراده امبولانس در دوازده ساحه آسیب پذیر توظیف گردیده و نیز کلینیک های سیار در همان ساحات



د عامې روغتیا وزارت د سهیلا صدیق د غونډو تالار

ایجاد گردیده است.

وزیر صحت عامه، از نهادهای خیریه و سازمان های بین المللی که به زلزله زده‌گان ولایت هرات کمک نموده اند قدردانی نموده و خواهان همکاری های بیشتر آنان گردید.

از سوی هم، وزیر صحت عامه در پیوند به آمار شهدا و زخمی های این حادثه غم انگیز اشاره نموده گفت که حدود (۱۰۰۰) تن شهید و (۲۴۰۰) تن زخمی شده است.



**داکتر قلندر عباد وزیر صحت عامه، با نماینده سازمان کشورهای اسلامی دیدن نموده و روی همکاری های مشترک میان وزارت صحت عامه و سازمان کشورهای اسلامی گفتگو نمودند.**

وزیر صحت عامه، از همکاری های این سازمان در افغانستان قدردانی نموده و خواهان همکاری های بیشتر آنان در بخش صحت گردید.

داکتر قلندر عباد بر بهبود خدمات صحی در سراسر کشور تاکید نموده گفت که ما شب و روز در تلاش هستیم تا خدمات صحی معیاری را در تمام نقاط کشور ارایه نماییم.

وزیر صحت عامه، همچنان از کارکردهای این وزارت یاد آوری نموده گفت: ما در دو سال گذشته حدود (۳۰۰) شفاخانه و کلینیک در نقاط مختلف کشور ایجاد نمودیم، و نیز تجهیزات طبی مورد نیاز برای مراکز صحی خریداری شده است و همچنان در راستای کاهش مرگ و میر مادران و نوزادان کارکردهای قابل ملاحظه ی صورت گرفته است.

از سوی هم نماینده سازمان کشور های اسلامی بر ادامه همکاری های این سازمان در بخش صحت تاکید کرده گفت که ما آماده هر نوع همکاری در بخش صحت هستیم.



## د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال د ننګرهار ولایت تورخم سیمه کې هېواد ته د راستنېدونکو کډوالو روغتیايي خدمتونو څخه لیدنه وکړه

د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال د ننګرهار ولایت تورخم سیمه کې هېواد ته د راستنېدونکو کډوالو روغتیايي خدمتونو څخه لیدنه او نظارت ترسره او د بشپړو روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو ډاډ ورکړ

د مالي او اداري چارو مرستیال، ښاغلي مولوي محمد اسحق صاحبزاده د ننګرهار ولایت تورخم سیمه کې هېواد ته د راستنېدونکو کډوالو له روغتیایي خدمتونو څخه له نږدې لیدنه ترسره کړه او د ښه راغلاست ترڅنګ یې ډاډ ورکړ، چې د عامې روغتیا وزارت ټولو راستنېدونکو کډوالو ته بشپړ معیاري روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي او روغتیایي کارکوونکي شپه او ورځ په سیمه کې د دوی په خدمت بوخت دي.

د یادوني وړ ده چې د ننګرهار ولایت په تورخم سیمه کې د عامې روغتیا وزارت د مرکزي روغتیایي کارکوونکو ترڅنګ، د ننګرهار، کونړ او لغمان عامې روغتیا ریاستونو روغتیایي کارکوونکي، مجهز امبولانسونه او درمل هم شتون لري.

## داکتر محمد حسن غیاثی معین پالیسی و انکشاف صحت وزارت صحت عامه، در نشستی چگونه گی مصرف بودجه وزارت صحت عامه را از طریق پروژه های صحی به بررسی گرفت.

در این نشست، مسوولان پروژه های صحی گزارش های کاری شان را در پیوند به مصرف بودجه در سال جاری تشریح نموده و از مصرف بودجه های شان در حدود ۹۰ الی صدرصد تا آخر سال مالی اطمینان دادند.

معین پالیسی و انکشاف صحت وزارت صحت عامه، ضمن استماع گزارش کاری پروژه ها در قبال مصرف بودجه، از آنان خواست تا در راستای مصرف بودجه به جای های مناسب دقت و بیشتر تلاش نمایند.



## په فراه ولایت کې د ۳۴۰ زره ډالرو په لګښت د لسو روغتیايي ځالو ودانيزې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې




دغه روغتیايي ځالې د فراه عامې روغتیا ریاست په هلو ځلو د MOVE مؤسسې په همکارۍ د UNFPPA دفتر په مالي لګښت د ۳۴۰ زره ډالرو په لګښت په ۷ ولسوالیو کې جوړې شوي، چې هره روغتیايي ځاله به د یو نرس او یوې قابلې په درلودلو سره د نورو چوپړتیاوو تر څنګ د مور او ماشوم خدمتونه ترسره کوي.

## د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال، مولوي محمد اسحق صاحبزاده د بادغیس ولایتي روغتون څخه لیدنه ترسره کړه



د مالي او اداري چارو مرستیال، ښاغلي مولوي محمد اسحق صاحبزاده د بادغیس ولایتي روغتون روغتیايي کارکوونکو او بستر ناروغانو سره له نېږدې لیدنه ترسره کړه ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل او د حل ډاډ یې ورکړ. ښاغلي صاحبزاده همداراز وویل، عامې روغتیا وزارت ژمن دی چې د هیواد ګوټ ګوټ ته معیاري روغتیايي خدمات ورسوي.

# د بدخشان ولایت واخان ولسوالۍ په پامیر سیمه کې د څلوېښت میلیونه افغانیو په لګښت د لومړني روغتیايي مرکز پرانسته تر سره شوه





د بدخشان ولایت پامیر سیمه کې د عامې روغتیا وزارت له لوري جوړ شوی روغتون

یاد روغتیايي مرکز چې د مسلکي روغتیايي کارکوونکي په شتون کې به د ګران هیواد په پامیر سیمه کې زمونږ د میشتو هیوادوالو لپاره روغتیايي خدمات وړاندې کوي په تیره یوه پیړۍ کې د یاد قوم لپاره لومړنی معیاري جوړ شوی روغتیايي مرکز دی!

د سیمې خلکو او مخورو په خپلو ویناوو کې د عامې روغتیا وزارت له رهبرۍ او په ټوله کې د افغانستان اسلامي امارت څخه مننه وکړه چې د اسلامي نظام په راتګ سره یې تر ډېرو حقوقو رسیده ګي شوې او لا کارونه روان دي.

د عامې روغتیا وزارت مالي او اداري معین ښاغلي مولوي محمد اسحق صاحبزاده د یاد روغتیايي مرکز د پرانستې پر مهال په خپله وینا کې وویل اسلامي امارت د هیواد ټولو وګړو ته د خپلو حقوقو ورکولو او روغتیايي خدماتو وړاندې کولو لپاره ژمنتیا لري ، زمونږ هڅه همدا ده چې د هیواد تر هر وګړي معیاري روغتیايي خدمات وړاندې کړو ، نوموړي په خپله وینا کې زیاته کړه ، د عامې روغتیا وزارت نه یواځې په واخان کې بلکې د هیواد په ټولو لرې پرتو سیمو کې همدې ته ورته عملي کړنو ته ژمنتیا لري او هیوادوالو ته یې په عمل کې ثابته کړې ، ښاغلي صاحبزاده زیاته کړه په نږدې وختونو کې به په همدې روغتیايي مرکز کې د جراحي متخصص او ځینې نورو روغتیايي کار کوونکو استخدام هم تر سره شي تر څو وکولای شي همدلته زمونږ د پامیر میشته هیوادوالو ستونزې حل کړي.

# از روز ملی کارکنان صحی جامعه گرامی داشت به عمل آمد



وزارت صحت‌عامه در نشستی از روز ملی کارکنان صحی جامعه با شعار" کارکنان صحی جامعه نماد خدمت گذاری، رضاکاری و ایثار در سیستم صحی افغانستان" گرامی داشت به عمل آورد.

الحاج حبیب الله آخندزاده حامد معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت عامه گفت: کارکنان صحی جامعه رضاکارانی هستند که خدمات صحی را در هر قریه و ساحات دور دست کشور عرضه می‌نمایند.

معین عرضه خدمات علاوه نمود، وزارت صحت‌عامه توانسته است که ۳۰ هزار کارکن صحی جامعه را در (۳۴) ولایت کشور تربیه نماید که آنان عرضه خدمات صحی ابتدایی را برای مادران و اطفال شان ارایه می‌نمایند.

همچنان معین عرضه خدمات صحی از فعالیت (۵۴۹) آشیانه صحی در کشور که (۱۰۵) آن در سال ۲۰۲۳ به فعالیت آغاز نموده و متباقی در سال آینده فعالیت خود را آغاز خواهند کرد یاد آوری نموده گفت: وزارت صحت‌عامه مصمم است تا روش عرضه خدمات صحی متکی بر اشتراک جامعه را در سراسر کشور تقویت نماید.

قابل تذکر است که تعلیمات صحی، کمک های اولیه، تداوی امراض معمول، تقویه سیستم رجعت دهی، تعقیب سیستم تداوی توبرکلوز، عرضه خدمات تنظیم خانواده در جامعه و اشتراک در کمپاین های ملی واکسین از جمله وظایف اساسی کارکنان صحی جامعه می‌باشد که نقش عمده ای را در بهبود کیفیت عرضه خدمات صحی و تقویت سیستم صحی کشور ایفا کرده است.

## بخش عاجل و مراقبت های جدی شفاخانه رابعه بلخی در نشستی افتتاح و به بهره برداری سپرده شد



**د عامې روغتيا وزارت له هغو ډاکټرانو څخه چې د ۱۴۰۰ هـ ش کال او له هغه څخه د مخه يې د تخصص پروګرام بشپړ کړی و؛ خو له خپلو مونوګرافونو يې دفاع نه وه کړې، عمومي ازموينه واخيسته!**






د يادې ازموينې له صحنې څخه د عامې روغتيا وزارت مالي او اداري معين مولوي محمد اسحاق صاحبزاده او يو شمير نورو مسؤولينو ليدنه تر سره کړه ، او ډاکټرانو ته يې د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ ، په ياده ازموينه کې د جراحۍ په پرنسيپ کې د ۱۳ تخصصي څانګو څخه ۳۱۴ تنو چې ۱۶۹ تنه يې ښځينه او همدارنګه په داخله پرنسيپ کې د ۱۱ تخصصي څانګو څخه ۱۶۵ تنو چې ۱۳ تنه يې ښځينه وې ګډون کړی و.

د يادې ازموينې د شفافيت د ټينګښت په موخه د پوهنتونو د جوړولو مسلکي او نظارتي کميټې په دواړو ورځو کې د سهار په شپږ بجو را بلل شوې او د قرنطين په شرايطو کې يې ازموينې ته پوښتنې برابرې کړې وې. د يادونې وړ ده چې يادې ازموينې ته کانديد ډاکټرانو په انلاين توګه د هېواد له مختلفو ولايتونو څخه نوملیکنه کړې وه، چې دغه بې سارې نوښت د دوی د اسانتياوو په موخه تنظيم شوی و.

# نصاب تعلیمی جدید(کریکولم) ریاست اکمال تخصص در نشستی به معرفی گرفته شد



ریاست اکمال تخصص وزارت صحت‌عامه برای اولین بار یک نصاب تعلیمی جدید و واحد ( کریکولم جدید) را که در (۳۴) ولایت کشور قابل تطبیق می‌باشد با حضور داکتر محمد حسن غیاثی معین پالیسی وپلان وزارت صحت‌عامه، استادان و نماینده گان ادارات مختلف به معرفی گرفت.

داکتر محمد حسن غیاثی معین پالیسی وپلان وزارت صحت‌عامه نخست از مسوولان ریاست اکمال تخصص، استادان و همکارانی که در تهیه این نصاب تعلیمی همکاری نموده اند ابراز سپاس و قدر دانی نموده و آن را یک دستاورد بزرگ در راستای



بلند بردن ظرفیت داکتران، بهبود سکتور صحی کشور و رفع چالش‌ها می‌داند.

در ادامه معین پالیسی وپلان گفت: حالا ما می‌توانیم در همه ولایات کشور از یک نصاب تعلیمی جدید و واحد استفاده نماییم و امیدواریم که مسوولان در قسمت تطبیق این کریکولم دست به دست هم داده و آن را عملی نمایند.

همچنان در ادامه این نشست داکتر محمد حیدرعمر رییس اکمال تخصص گفت: این نصاب تعلیمی جدید بهترین نصاب می‌باشد که ما توانستیم آن را با تلاش های شبانه روزی استادان و همکاران ما در ظرف سه ماه در دو پرنسیپ یعنی داخله و پرنسیپ جراحی تهیه و آماده تطبیق نماییم.

از سوی‌هم استادان برنامه اکمال تخصص وزارت صحت‌عامه نظریات و پیشنهادات خود را با رهبری وزارت صحت‌عامه در مورد کریکولم جدید شریک ساخته و وعده سپردند که در قسمت تطبیق آن با وزارت صحت‌عامه همکار خواهند بود.



# په تېرو شپږو مياشتو کې د عامې روغتيا وزارت ځينې لاسته راوړنې

۱. د عامې روغتيا وزير، ښاغلي ډاکټر قلندر عباد له لوري د ملالۍ زېږنتون د لېپراسکوپي عمليات خونه پرانيستل شوه.

۲. نېږدې ۲۰۰ تنه نارينه او ښځينه وو د پوهاند غضنفر انستيټيوټ څخه د طبي ټکنالوژۍ، عالي نرسنگ، فزيوتراپي او راډيولوژۍ څانگو څخه د فراغت سندونه ترلاسه کړل.

۳. د عامې روغتيا وزارت له لوري د ارزگان ولايت په دهراوود ولسوالۍ کې د هغې کورنۍ چې ۱۲۰ غړو يې د سترگو معلوليت درلوده په وړيا ډول درملنه پيل شوه.

۴. د عامې روغتيا وزارت مالي او اداري معين، مولوي محمد اسحق صاحبزاده له لوري په فارياب ولايت کې د نسايي او ولادي ۵۰ بستريز روغتون تعمير او د کتلوي معافيت تعمير پرانيستل شو.

۵. د عامې روغتيا وزارت مالي او اداري معين، مولوي محمد اسحق صاحبزاده بلخ ولايت ته د سفر په ترڅ کې د دې ولايت د کود برق ۵۰ بستريز روغتون پرانيسته ترسره کړه.

۶. د عامې روغتيا وزارت د معلولينو د بيا رغونې ۳۵ بستريز روغتون کې د يوې مجهزې عمليات خونې پرانيسته ترسره او گټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

۷. په زابل ولايت کې د روږدو د درملنې ۵۰ بستريز روغتون پرانيستل شو.

۸. بيش از نيم تُن مواد خوراکی تاريخ گذشته و بی کيفيت در ولايت تخار از سوی کميسيون نظارت از اصناف شهری جمع آوری گرديد .

۹. مسوولان رياست صحت‌عامه ولايت تخار از توزيع

پنج عراده امبولانس که به ارزش بیست میلیون افغانی از سوی وزارت صحت‌عامه به ریاست صحت‌عامه این ولایت خریداری شده است خبر می‌دهند.

۱۰. د عامې روغتیا وزارت مالي او اداري معین بلخ ته د سفر په ترڅ کې د دې ولایت د انتاني ناروغیو ۵۰ بستریز روغتون، پایواز خونې او هېموډیالېز څانګې پرانیسته ترسره کړه.

۱۱. په جوزجان ولایت کې عصري او مجهز ۲۰۰ بستریز روغتون پرانیستل شو.

۱۲. د محیطي روغتیا ریاست د خوړو آمریت د کابل ښار لومړۍ ناحیې مرادخانی سیمې د خوراکي له پلورنځیو او هټیو څخه نېږدې ۱,۵ یو نیم ټنه بې کیفیته او تاریخ تېره خوراکي توکي راټول کړل.

۱۳. مسوولان ریاست صحت‌عامه ولایت بلخ از گذاشتن سنگ تهداب یک مرکز صحی فرعی در قریه کلدار قدیمی ولسوالی کلدار ولایت بلخ خبر می دهند.

۱۴. مسوولان ریاست صحت‌عامه ولایت دایکندی از بازسازی ۵۸ آشیانه صحی فامیلی و افتتاح آن در این ولایت خبر می‌دهند.

۱۵. چهل تن از داکتران نسایی ولادی که در بخش لاپراسکوپی آموزش دیده بودند، طی مراسمی فارغ گردیدند.

۱۶. داکتر قلندر عباد وزیر صحت عامه، امروز بخش مراقبت های جدی شفاخانه استقلال را افتتاح و به بهره برداری سپرد.

۱۷. مسوولان صحی ریاست صحت‌عامه ولایت بامیان از فعال شدن سیستم ماشین آکسیجن در شفاخانه ولایتی خبر می‌دهند.

۱۸. د غزني ولایت په جاغوري ولسوالی کې د معتادینو د درملنې لپاره شل بستریز روغتون ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

۱۹. په پکتیا ولایت کې د انتاني پنځوس بستریز روغتون پرانیسته تر سره او په کار یې پیل وکړ.

۲۰. مسوولان صحی ولایت سمنگان از تسلیم گیری چهارعراده امبولانس که از طرف رهبری وزارت صحت‌عامه به این ولایت سپرده شده بود خبر می‌دهند.

۲۱. دعامې روغتیا ریاست لخوا د کابل ننګرهار لویې لارې د سرخکانو تروما سنټر او لغمان امبولانس ټیم ته ۲ عرادې صفر کیلو متر مجهز امبولاسونه ورکړل شو.

۲۲. د قابلې نړیوالې ورځې په ویاړ د ټولنې د لرې پرتو سیمو د ۲۴ قابلو د فراغت غونډه ترسره شوه.

۲۳. بخش عاجل و مراقبت های جدی شفاخانه رابعه بلخی در نشستی افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

۲۴. مسوولان صحی ولایت فاریاب از جمع آوری و حریق نمودن چهارتُن ادویه تاریخ گذشته که ارزش آن حدود دومیلیون افغانی می شود خبر می‌دهند.

۲۵. د کندهار ولایت تخته پُل ولسوالی اړوند په نشه یي توکو د روږدو کسانو د درملنې په مرکز کې ۱۰۰ بستریز روغتون پرانیستل شو.

۲۶. سنگ تهداب یک باب مرکز صحی در ولایت جوزجان گذاشته شد.

۲۷. په هلمند ولایت کې لس نوي روغتیایي مراکز پرانیستل شول.

۲۸. مسوولان ریاست صحت‌عامه ولایت بلخ از جمع آوری و هدر نمودن حدود شصت وشش تُن ادویه

تاریخ گذشته و مواد غذایی بی کیفیت در این ولایت خبر می‌دهند.

۲۹. په هلمند ولایت کې د کرونا د درملنې ۱۰۰ بستریز روغتون پرانیستل شو.

۳۰. دوصد تن از افراد معتاد به مواد مخدر از شفاخانه هزار بستر تداوی معتادین مرخص گردیدند.

۳۱. د عامې روغتیا وزیر ښاغلي ډاکټر قلندر عباد د پوهاند غضنفر روغتیایي علومو له انستیتوت څخه لیدنه ترسره او ځینې نوې څانګې پرانستې.

۳۲. مسوولان ریاست صحت‌عامه ولایت بلخ از افتتاح وفعال شدن سیستم برق سولری در بانک خون شفاخانه حوزه‌ای ابوعلی سینای بلخی ولابراتوار ریفرنس زون‌شمال کشور خبر می‌دهند.

۳۳. د وزیر محمد اکبر خان ملي او تخصصي روغتون کې د ۴۰ میلونه افغانیو په ارزښت په نړیوال ستندرد د یوې عملیات خونې او ودانۍ د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

۳۴. په ننګرهار کې ۱۵۰ کسه روږدي له ۴۵ ورځنۍ درملنې وروسته خپلو کورنیو ته وسپارل شول.

۳۵. ۳ تُن مواد غذایی بی کیفت از طرف ریاست صحت محیطی وزارت صحت عامه جمع آوری وهدر گردید

۳۶. مسوولان ریاست صحت‌عامه ولایت جوزجان از افتتاح و بهره برداری یک مرکز صحی فرعی در قریه گردن ولسوالی قوشتپه در این ولایت خبر می‌دهند.

۳۷. د عامې روغتیا وزارت له لوري دوه عرادې مجهز امبولاسونه د کونړ عامې روغتیا ریاست ته وسپارل شو.

۳۸. د زابل ولایت په شاجوی ولسوالۍ کې د پنځه نیم میلیونه افغانیو په لګښت د یو روغتیایي مرکز ودانۍ ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

۳۹. په لوګر ولایت کې د څلورو روغتیایي مراکزو پرانیسته ترسره او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

۴۰. د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت د معلولینو د بیا رغونې روغتون په ډېرو کمو امکاناتو سره وکولای شول چې د بدن مصنوعي غړي جوړ کړي.

۴۱. د نایب امین الله خان لوګري روغتون کی د وینې بانک پرانیستل شو

۴۲. د کندهار ولایت په عینو مېنې ۳۵۰ بستریز روغتون کې د ام آر اې او ایکسرې ماشینونه فعال او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

۴۴. د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي ډاکټر قلند عباد، ارزګان ولایت د سفر په ترڅ کې د ارزګان ولایتي روغتون ته له ۷۰ بسترو څخه ۱۵۰ بسترونو ته ارتقاء ورکړه.

۴۵. په غزني ولایت کې د نوي زیږېدلو ماشومانو د جدي مراقبت خونه پرانیستل شوه.

۴۶. په سپین بولدک ولسوالۍ کې د ښېړنیو پېښو د درملنې ۳۰ بستریز روغتون پرانیسته ترسره او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

۴۷. په بامیان ولایت کې د ۴۰۰ زره ډالرو په لګښت ۲۳ روغتیایي ځالي جوړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

۴۸. په فراه ولایت کې د ۳۴۰ زره ډالرو په لګښت لس روغتیایي ځالي جوړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

۴۹. په هلمند ولایت کې د ۱۲۷ زره ډالرو په لګښت د ۴ روغتیایي مرکزونو ودانۍ ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

۵۰. په هلمند ولایت کې یو روغتیایي مرکز جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

۵۱. د تورخم اساسي روغتون (BHC) څخه ایمرجنسي روغتون ته ارتقاء وکړه.

۵۲. د څلور میلیاره افغانیو په لګښت سره د جمهوریت روغتون د ریفورم او ډیزاین چارې پیل شوې.

۵۳. په تخار ولایت کې د ۱۶ روغتیایي مرکزونو د بیارغولو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

۵۴. د بادغیس ولایتي روغتون کې ولادت خونه او مجهزه عملیات خونه جوړه او پرانیستل شوه.

۵۵. په بادغیس ولایت کې د ۲۵ میلیونه افغانیو په لګښت ۱۷ روغتیایي ځالې جوړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

۵۶. د بدخشان ولایت واخان ولسوالۍ کې د ۴۰ میلیونه افغانیو په لګښت لومړنۍ روغتیایي مرکز جوړ او پرانیستل شو.

۵۷. ۵۰ تنو روغتیایي کارکوونکو د ساحوي اپیډیمیولوژي پروګرام څخه د یو غونډې په ترڅ کې د فراغت سندونو ترلاسه کړل.

۵۸. د کندهار ولایت په میرویس حوزوي روغتون کې د ۵ سوه زره ډالرو په لګښت د اکسیجن د تولید دستګاه فعاله او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

۵۹. د عامې روغتیا وزارت د خصوصي سکتور د تنظیم او همغږۍ او له روغتیایي قوانینو د تطبیق او بررسۍ ریاستونو د مسؤلینو له لوري د ۳۴۷ روغتیایي مرکزونو څخه نظارت ترسره شو.

۶۰. د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي ډاکټر قلندر عباد له لوري د پولیو اړوند د ټلیفوني اړیکو مرکز پرانیستل شو.

۶۱. د ننګرهار سیمه ییز تخصصي روغتون کې د اکسیجن تولید پرمختللی سیستم جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

۶۲. د بلخ ولایت په چهار بولک ولسوالۍ کې د ۳ میلیونه افغانیو په لګښت یو روغتیایي مرکز جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

۶۳. د ننګرهار ولایت په بي بي فاطمه الزهرا روغتون کې د توبرکلوز پرمختللی تشخیصیه ماشین (Gen Expert) فعال او د لابراتوار څانګه تر رغونې وروسته پرانیستل شوه.

۶۴. د ۲۹۶ میلیونه افغانیو په لګښت د مور او ماشوم روغتون پرانیسته ترسره او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

۶۵. د غزنې ولایت په مرکزي روغتون کې د څه باندې یو میلیون افغانیو په لګښت ښځینه عملیات خونه جوړه اوګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.


۶۶. د عامې روغتیا وزارت د سترګو د متخصصینو له لوري په پکتیکا ولایت کې شاوخوا درې سوه د سترګو د پردې (کترکت) عملیاتونه، OPD ۵۷۱۶ او ۵۰۰ د نږدې لید (مطالعې) عینکې اړمنو هېوادوالو ته وویشل شوې.

۶۷. د نورستان ولایتي روغتون ته د ۵۰ بسترونو څخه ۱۰۰ بسترونو ته ارتقاء ورکړل شوه.

۶۸. په نورستان ولایت کې ۱۵ روغتیایي ځالې (FHH) جوړې او پرانیستل شوې.

۶۹. په نورستان ولایت کې د روږدو د درملنې ۲۰ بستریز روغتون پرانیستل شو.

# د عامې روغتیا وزارت له تویټر پاڼې



نحمده ونصلي علی رسوله الکریم، امابعد!

د متعال او مهربان رب ډېر شکر اداء کوو، چې په ټول هېواد کې د تېر په پرتله روغتیایي خدمتونه معیاري شوي او ورځ تر بلې د ښه کېدو په حال کې دي.

د عامې روغتیا وزارت ژمن دی، چې د هېواد ټولو نږدې او لرې پرتو سیمو کې هېوادوال له غوره روغتیایي خدمتونو څخه برخمن کړي، پر همدې بنسټ په تېرو دوو کلونو کې د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې سلګونه روغتیایي مرکزونه جوړ شوي او لا هم دوام لري. همداراز په وقایوي، تشخیصیه او معالجوي برخو کې خورا ستر نوښتونه او پرمختګونه رامنځته شوي، د روغتیایي برخې د ځان بسیاینې په موخه بېلابېل ګامونه اخیستل شوي او لا هم د عامې روغتیا وزارت ژمن کارکوونکي ولسونو ته د اسانتیاوو د رامنځته کولو لپاره شپه ورځ د خپلو ملي موخو په ترلاسه کولو بوخت دی.

دا چې د عامې روغتیا وزارت د خپلو چارو او کړنو په اړه له ولسونو سره د معلوماتو شریکولو ته ژمن دی او تل یې هڅه کړې، چې له بېلابېلو لارو څخه روغتیایي معلومات او ترسره شوې کړنې تر هېوادوالو ورسوي، دا دی له نېکه مرغه یو ځل بیا د ویاندویۍ ریاست اړوند د نشراتو او عامه اړیکو آمریت د روغتیا او ژوند مجلې دویمه ګڼه چاپ او ستاسې درنو لوستونکو تر لاسونو ورسېده، په دې مجله کې د عامې روغتیا وزارت د لاسته راوړنو او فعالیتونو تر څنګ د بېلابېلو روغتیایي موضوعاتو په اړه مقالې، لیکنې او څېړنې ځای پر ځای شوي، چې د ولسونو سره به د روغتیایي پوهاوي او معلوماتو په زیاتوالي کې اغېزمنه تمامه شي.

په درنښت

ډاکټر قلندر عباد

د عامې روغتیا وزیر



# صحت و زندگی

دور دوم-شماره دوم، جمادی الاول ۱۴۴۵هـ ق